ادع الى سبيل ربک بالحکمة والموعظة الحسنة وجادلهم بالتي هي احسن | الآيه

د توحيد او جهاد مجله

دعوت

د افغانستان د جماعة الدعوة الى القرآن و السنة د افکارو خپرونکې

۲۹ — ۳۰ گڼه

د اسلامي دولت په مقابل کې نافرماني بغاوت دی:
شيخ سميع الله

په کابل کې څه حال دی؟

د توپك او کوتك خبرې دی نوري نفي کړې شي (اريوبل)

وَكُنتُمْ عَلَىٰ شَفَا حُفْرَةٍ مِّنَ النَّارِ فَأَنقَذَكُم مِّنْهَا

د جماعة الدعوت د حقه حقوقو د حصول په خاطر هر ډول قرباني ته تيار يو
(دکوټړ جهادي قوماندانان)

ملګري ملتونه به د افغانستان د بيا ودانولو لپاره خپلې مالي مرستې جاري ساتي. (سحيقي)

د دين مفهوم
(دريمه برخه)

د پيغمبر؏ لار

تعليمات اسلامي

بسم الله الرحمن الرحيم

قل هذه سبيلي ادعو إلى الله على بصيرة أنا ومن اتبعني وسبحان الله وما أنا من المشركين
سورة يوسف (۱۰۸)

دعوت

د توحيد او جهاد مجله

د امتیاز خاوند: دافغانستان جماعة الدعوة الى القرآن والسنة

مؤسس: امام الجهاد شهيد شيخ جميل الرحمن (رحمه الله)

سرپرست: الشيخ سميع الله

خپرونكې اداره: ددعوت او ارشاد رياست

شپږم كال - پرله پسي (۲۹-۳۰) گڼه -۱٤۱٤هـ ق كال د ربيع الأول او ربيع الثاني مياشتي

دهيئت تحرير تر نظارت لاندى

دى گڼى مطالب

(عنوان)

* په كابل كې څه حال دى؟ (سرمقاله) ۲
* داسلامي دولت په مقابل كې جنگ نا جائز دى ۵
* درني وسلى هغه وخت را توليدى شي ۸
* جمهوريت د اسلام په رڼا كې ۱۰
* تعليمات اسلامي ۱٤
* د پاكستان كورني مشكلات ددى سبب شول ۲۳
* ددين مفهوم (دريمه برخه) ۲٦
* ته په كله راشى (شعر) ۲۹
* ظالمه ستا له لاسه (شعر) ۳۰
* ددين د شمعي پروانه(شعر) ۳۱
* دپيغمبر لار ۳۲
* كوم كار چه د الله تعالى د رضا لپاره ۳۵
* د ارمان كاغذ ۳۷
* په باجوړ كې د قوماندانانو غونډه ۳۹
* د نبوى ملغلرو اميل ٤۱
* د عيد ميلاد نبي شرعي حيثيت ٤٤
* دليكونو بهير ٤٦

په پاكستان كې د
گډون بيه:
مياشتنى: ۱۰كلدارى
كلنى: ۱۰۰كلدارى

په نورو بهرنيو هيوادونوكې د
گډون بيه:
مياشتنى: ۲ امريكائى ډالر
كلنى: ۱۰امريكائى ډالر

په داخل او په پاكستان كې زمونږ
نمايندگان

په داخل كې: لعل محمد «افسوس»
اسلام آباد: عبدالله
پيښور: غني الله «مسلم»
لاهور: حماد شاكر
كراچى: چوهدرى ظهور احمد
كوټه: عرفان منگل
مظفر آباد: بشير قريشى

په نورو بهرنيو هيوادونوكې زمونږ
نمايندگان

سعودى عرب: فيضان الله
امريكا: عبدالرحمن احمد
بريطانيا: منور علي
جرمنى: وائي - ايم حميم
هالينډ: عماد الدين بكرى اسماعيل

مكاتباتى پته: «دعوت مجله» - پوسټ بكس نمبر ٦۱٤ پشاور پاكستان

بانكى حساب: جماعة الدعوة الى القرآن والسنة - اكاونټ نمبر ۱۹٤٦٥ -حبيب بينك كينټ - صدر روډ- پشاور.

بسم الله الرحمن الرحيم

سرمقاله

په کابل کې څه حال دی؟

هسې خو هم د تیر ملحد رژیم په دوران کې چې د کابل د ښار اکثره تعمیرات او تأسیسات د روسي نظامي قطعاتو په موجودیت کې ویجاړ شو او څه ئې هم په دوه طرفه جګړه کې د توپونو ګولیو خوړلي وو او هغه چې پاتې وو د اسلامي انقلاب په دوران کې په بې مفهومه او خپل منځي جنګونو کې لولپه شول، ځکه نو هر څوك چې اوس دغه ښار ته راځي او د پخواني شکل او محتوا سره ئې مقایسه کوي وائي چه کابل بیخي په بله جامه شوی دی او په سیاسي حوادثو کې ئې ښکلا او لرغونتوب له لاسه ورکړی دی. د تیرو پنځلسو کلونو په فزیکي جنګونو کې یوازې د کابل ښار او د ملك نوري ودانۍ او تأسیسات نه دي خراب شوي بلکه زیاتي افغاني ککرۍ هم پکې د خاورو لاندي شوي دي او څومره چه مالي خساره رسیدلې ده په همدې تناسب پکې انساني تلفات هم د توپ او ټوپك په ډزو غپ کې د اجل کومي ته ورغلي دي، هوکې موږ د کابل د ښکلي ښار خبره کوله هغه ښار چه همیشه به ورته بهرنیان او تورستان دسیال صفا او حتی د فلمبردارۍ او عکس بردارۍ دپاره راتلل او دغه د شهامت او شجاعت نه ډك ښار به ئې د اب وهوا او ښکلا د نظره د سویس سره مشابه ګاڼه خو نن بیا همدغه سیلانیان او حتی ژورنالستان د رپورتاژونو او رسالو د لیکلو دپاره د کابل په کنډوالو او تالا ترغی شوي کابل پسې ډلي ډلي را روان دي او له دې درکه پوره حق الزحمه هم لاس ته راوړي.همدا اوس سم نیم کابل چې خارجیان ئې د کابل جنوب غرب په نوم یادوي وران ویجاړ پروت دی او حتی چه د ممنوعه سیمې په حیث اعلان شوی دی. کابل چه یو وخت د افغانستان د مرکز (دارالحکومت) په حیث د ټولو شریك کور اودمال تجارتي منډیي وه اوس د څو جهادي تنظیمونو تر مینځ ویشل شوی دی او د یو تنظیم سړی د بل تنظیم په مملوکه ساحه کې تګ راتګ نشي کولی او که چیرې اشد ضرورت پیښ شي نو ضروري ده چه د هغې د مالك مکتوب او یا جواز به د ځانه سره ولري، دا خبره باید زه ددعوت د مجلې لوستونکو ته وکړم چه د اسلامي انقلاب د برې سره جوخت چه په ناڅاپي

توګه ټولې لوی لاری خلاصی شوی او د بهر څخه د خوراکی او استهلاکی شیانو ګاډی کابل ته راورسیدل، په مطلق ډول سره خلکو د اسلامي حکومت د برې او استحکام د پاره په ټول توان او طاقت سره مټې را ونغاړلې او د یوځ نوی او روښانه دور په شروع کیدو سره ئی تود هرکلی وشو، خو په همغه اوله ورځ چه د پخوا په څیر کابل د راکټونو او توپونو تر برید لاندې راغي ددی په ځای چه ددی حکومت د استحاکم لپاره په اسلامي طریقه د مرستی او لاس کولو مصدر شی د کابل نه د تیښتی او مهاجرت سلسله شروع شوه چه بې له شکه دی اعمالو جهاد او د جهاد اهدافو ته نه جبیره کوونکی زیان ورساوه او لا تر اوسه ددائمي اور بند دټینګښت ضمانت هیچا نه دی ورکړی.

کابل لا په حوادثو کی راګیر دی د جهادی تنظیمونو تر مینځ حقیقي روغه‌لا نه ده شوې که څه هم ټول تنظیمونه په ظاهره په یوه اسلامي دولت او حکومت کي راټاله دی خو په بواطنو کی د خصومتونو هنګامي لا پوره نه دی سړی شوی او زړی تربګني او دوسيې لا هماغه شان پرتی دی.

د یوی اطلاع مطابق افغان مشرانو په پیښور کی د مؤقتي حکومت د جوړولو نه وروسته د جلال آباد د لوظنامی په شمول (۷۹) معاهدی لاسلیك کړی، خو یوی هم څه داسی ثمره‌نده ورکړی چه سیاسی صورت حالوربانډی ټینګ شنی او د جهادی اهدافو په رڼا کی په یوه واحد مرکز را ټول شي.

یوازی کابل ته پته ده چه څو ملیونه ګولی ئی خوړلی دی او یوازی د کابل ښاریان پوهیږی چه څومره اجساد ئی سپیو او د هوا مرغانو ته اذوقه برابره کړی ده او یا په انګړونو کی ښخ کړی شوی دی.

هغه چاچی د کابل تمام عیار جنګونه لیدلی ټول هغه ترخه واقعات به هم ورته معلوم وی چه د تنظیمی اړیکو په جرم دڅومره کسانو څخه پوزی او غوږونه غوڅ کړی شوی او د څومره تور سرو په حیا او ناموس باندی تیری او تجاوز شوی دی.

په دی لړ کی زیاتی شرحي ته ضرورت نشته دی او حتی اوس هم که چیری په تنظیمی او یا لساني حیثیت یو د بل په طرف ور برابر شی کانټینرونه او د شکنجه کیدو کندی ئی په خدمت کی دی او د سړی وژني قصابان اوس هم د پیسو د حصول او تنظیمي کسات اخیستو لپاره د پخوا په شان په همدی اسلامي نظام کی دغیر انساني عملیاتو ته سترګی په لاره دی .

ځکه نو په کابل کی ددعوت د مجلی نماینده په صراحت سره دا خبره لیکی چه کابل وران دی، جهادی اخوت او اتفاق پخه کډه کړی ده، اکثره تنظیمی سړی وسله وال دی او د چا خبره ټولو په ماشو کی ګوتی ایښی، سمدستي خو فزیکی جنګ غلی دی خو د ځینو تنظیمونو تر مینځ په شدت سره تبلیغاتي او سړه جګړه روانه ده، د اولوالأمر اطاعت د ټوپك په شپیلۍ پوری منحصر دی، ممنوعه جنګ ځپلی او قبضه شوی سیمی تشی پرتی دی، د وران شوو کورونو خلك په ښوونځیو او نورو دولتی ودانیو کی با مشققته ژوند تیروی، وزارت خانی فعالی دی خو هر تنظیم په خپله قبضه کی اخستی دی او کار پکی اهل کار ته نه دی سپارل شوی.

د درنو وسلو د ټولولو خبری توندی روانی دی خو داسی ښکاری چه ددی منصوبي د عملی کولو د پاره هیڅ د لچسپی او خلوص نیت وجود نلري تش په نامه د کابل سره د تګ راتګ لړی تانده ده خو د لویو لارو پاټکونو چی د پیسو په ځای د خلکو نه واسکټونه هم وباسي حالات زیات کړکیچن کړی او د مرکز سره ئی رابطه خرابه کړی ده خو هیڅوك نشي کولی دغه جهادی پهلوانان چه د اسلام او جهاد په ضد عمل کوی د خپلو نیول شوو پاټکونو څخه لری کړی، که څه هم هر جهادی مشر په خپل وار دا غږ اوچت کړی دی چه دا یاران دی ایسته کړی شی خو هیڅا هم په دی باره کی غوڅ او عملی اقدام نه دی کړی.

هر مشر چه تقریرته پاڅیږی د اتحاد او یووالی خبری کوی او دا ټول اختلافونه د خارجي او کورنیو دښمنانو په ګټه بولی خو بیا هم کوم اثر نکوی خو هیڅکله داسی نه دی شوی چه ټول رهبران په یو آواز او یو مصلحت ددښمنانو په مقابل کی لاس یو کړی او د یوه اسلامي مرکزی قوی حکومت په جوړولو صلاح شی.

ځکه نو د کابل دا حال دي چه هر یو پکی ځانته من وائی د اتفاق په خبره نه راټولیږی خو د جنګ د قوماندی د پاره تیارسئ دی، د کابل خلکو جداً د خپلو مشرانو څخه دا مطالبه کړی ده چه خپل منځي اختلافات دی لری کړی، جنګونه دی بس کړی، د إسلام او جهاد دښمنانو په مقابل کی دی یو شی او په اسلامي طریقه دی د اسلامي مستحکم حکومت په جوړولو سره مسلمانو هیوادوالو ته د خدمت مصدر شی څو ولیدل شی چه دغه خواست به کله او د کومو شرایطو لاندی مستجاب شي.

ومن الله التوفیق

د اسلامي دولت په مقابل کي جهاد نا جایز دی

احمد شاه ((وحدت))
Ahmad Shah (Vahdat)
A. K. P. O.

شیخ سمیع الله «نجیبی»

ددعوت دمجلې اختصاصی خبریال د جاری سیاسی او نظامي صورت حال د څرنګوالی په ارتباط په کابل کی د جماعة الدعوة الی القرآن والسنة له أمیر او په جمهوری ریاست کی له مشاور وزیر محترم مولوی سمیع الله «نجیبی» سره مرکه کړی ده چه په لاندی متن سره وړاندی کیږی:

پوښتنه: تاسو څه وخت کابل ته راغلی یاستئ او د راتګ هدف مو څه شی دي؟

ځواب: کله چه په کابل کی قدرت مجاهدینو ته منتقل شو او لومړنی جهادی کاروان د هجرت له دیار څخه افغانستان ته

راتلو د جماعت الدعوت الی القرآن والسنت قیادت د خپلو اسلامي مسئولیتونو په بناء ددی کاروان سره یو ځای کابل ته راغلو اوله هغه وخته بیا تر نن ورځی پوری مونږ اکثره وخت په کابل کی یو او کوشش مو کړی دی چه اسلامی دولت مستحکم او د مجاهدینو تر مینځ یووالی مینځ ته راشي او په دی اساس و کولی شو د څوارلس کلن جهاد اهداف او نیک مقاصد په عمل کی پیاده کړو. مونږ حتی الوسع د افغانستان د مسلمان ملت په وړاندی خپل ایمانی وجائب تر سره کړو.

پوښتنه: د اسلامي دولت سره ستاسو د ملاتړ روحیه څنګه ده او ایا د کونړونو په ولایت کي دولتی اداری فعالی دی که نه؟

ځواب : تاسو ته دی واضح وی چه جماعت الدعوت دجهاد بنسټ ایښودونکی تنظیم په حیث پیژندل شوی دی، ددی جماعت شهید أمیر شیخ جمیل الرحمن رحمه الله د لمړی ځل لپاره وسله وال جهاد د کونړ د ولایت څخه شروع کړی او د لومړی ځل لپاره یی دغه ولایت آزاد او هلته ئی د اسلامي امارت په نوم اسلامي اداره جوړه کړی وه او

عملاً ئی اسلامي شریعت نافذ کړی ؤ.

کله چه اسلامي دولت تاسیس شو مونږ او زمونږ اداری په دی دولت کی برخه واخسته او په خپلو ټولو وسایلو او امکاناتو مو داسلامي دولت د پیاوړتیا د پاره هلی ځلي پیل کړی دی.

باید وویل شی چه د کونړونو د ولایت ټولی اداری یا فعالی او یا هم د فعالیدو په حال کی دی امنیت ټینګ دی او هر څوك په خپل ورځنی کار و بار لګیا دی.

پوښتنه: څه وخت ددولت د مشر څخه عدم اطاعت په کار دی او ایا د موجوده دولت په مقابل کی عدم اطاعت جواز لری که نه ؟

ځواب: کله چه د اسلامي حاکم څخه بواح کفر صادر شی نو په هغه وخت کی بیا په مسلمانانو باندی عدم اطاعت واجبیږی او چه کفر بواح ورنه نه وي صادر شوی هر قسم نافرمانۍ بغاوت ګڼل کیږی.

پوښتنه: ځینی مشران وایي چه په افغانستان کی لا جهاد پای ته ندی رسیدلی دمحمدی غرا شریعت له نظره دی پوښتنی ته څه ځواب ویلی شئ؟

ځواب: په یوه حدیث شریف کی راغلی دی چه جهاد د قیامت تر ورځی پوری دوام لری، د هر مسلمان فریضه ده چه د کفر او منکرپه مقابل کی جهاد ته د قیامت تر ورځی پوری دوام ورکړی خو د اسلامي دولت په مقابل کی قیام ته جهاد نه ویل کیږی .

پوښتنه: د جلال آباد معاهده څه ډول بولی او څنګه کیدی شی ددایمي وږهندی ارمان تر سره کړی شي.

ځواب: د جلال آباد د معاهدی سره سم چه ملت ورته د سولی د تأمین په مقصد د اخیری لوظنامی په حیث سترګی نیولی دی امید شته دی چی ټول جهادی مشران په اخلاص او صدق سره ددی معاهدي ټول مفردات عملی کړی، په تیره بیا ددرنی وسلی را ټولول او ددفاع د وزارت ګډ او با صلاحیته کمیسیون ته سپارل د جنګ عوامل کمزوری کوی او پدی وسیله سولی او دایمی ثبات ته ښه زمینه برابر- ولی شي.

جماعت الدعوت په دی اړوند او دغسی نورو نیکو کارونو کي هر قسم همکاری ته چمتو دی.

پوښتنه: اهل تشیع په دی ټینګار کوی چه زمونږ په ټولنه کی جعفری فقه په رسمیت و پیژندل شی، ستاسو د نظر ټکی څه شی دي؟

ځواب: د اهل سنت و جماعت د نظره تشریعي قوانین باید د قرآن او سنت په رڼا کی پیاده شی ټولی فقهي او د أئمه کرامو نظریات په همدی محور باندی را څرخي نو که مونږ روایو چه باید یوازی قرآن او سنت په رسمیت و پیژندل شي نو دا او نور ټول مسایل به حل وفصل شي.

پوښتنه : په دی وروستیو وختو کی یو شمیراجیرو جنایت کارانو د میوو او سبو په مسمومولو او زهری کولو سره د مسلمان وژني بل مصیبت په خلکو کی راوړی دی دا مسئله څنګه څیړئ؟

ځواب: په کابل باندی د کلونو جنګ جګړی او راکټ باران سره سره چی د میوو او سبزیجاتو تسمم هم په دی مصیبتونو باندی علاوه شویدی د تشویش وړ خبره ده، په زهری موادو باندی د اجوری په مقابل کی د خلکو وژل د اسلام د مبارك دین د احکامو له مخی یو غټ او نه بخښونکي جنایت دی چه عاملین ئی باید په اشد جزا محکوم کړی شی.

ځکه د اسلامی حدودو په تطبیق سره په اسلامی ټولنه کی دټولو انسانانو ژوند ښیرازه او خوندی پاتی کیږی. اسلام هغه دین او قانون دی چی په ټولنه کی ئی د اجتماعی او انفرادی حقوقو لحاظ ساتلی دی او هر چاته ئی بی له توپیره خپل حق مشخص کړی دی او د هغوی د حقوقو د ضائع کیدو او تلف کیدو دفاع ئی کړیده.

په اسلام کی د هر مسلمان د نفس عزت آبرو او مال محترم ګڼل شوی دی د هر مسلمان د عزت لوټول په زور او چل سره تری مال اخستل او وینه تویول حرام دی.

اسلام داسی اصول او حدود وضع کړی دی چی د هغی په رعایت کولو سره د ټولنی د هر فرد نفس، مال، عزت او ناموس په امن کیږی، د غلا د حد په ذریعه د انسان مال محفوظ کیږی او د زنا د حد په اجرا سره د انسان عزت او ناموس په ځای کیږی. او د قصاص د تطبق په وجه د انسان وینه او ځان ساتل کیږی، ځکه نو باید وویل شی چی په اسلام کی هیڅ عیب او نقص نشته دی ټول نواقص او معایب زمونږ د مسلمانانو په اعمالو کی دی.

فلهذا زه د جماعت الدعوت د امیر او د ارشاد او دعوت د مشاور وزیر په حیث چی دا زمونږ مسلك او

کړنلاره ده د موجوده ډیرو افسوس ناکو واقعو او ددې غیر اسلامي او غیر انساني اعمالو په هکله چې د زهرو د پیچکارۍ کولو د لارې بې ددې نه چې وینې توی کړي، مسلمان وژنه پیل کړې ده. یوې اسلامي واقعې ته اشاره کوم او هغه داسې وه:

رسول الله ﷺ د خیبر په غزا کې یوې یهودي ښځې د حارث لور زینبې او د سلام بن مشکم یهود میرمنې پیغمبر ته په یو وریت شوي پسه کې زهر اچولي وو او مخکې د مخکې نه ئې دا پوښتنه هم کړې وه چې د پیغمبر ﷺ د پسه په غوښه کې کوم اندام زيات خوښيږي.

او دا معلومات ئې هم حاصل کړي وو چې د پسه لاس ئې خوښيږي ځکه نو ښه ډیر زهر ئې ورته پکې اچولي وو.

هم هغه وو چه رسول الله ﷺ د پسه د غوښې نه یوه مړۍ وخوړه غوښې ورته خبر ورکړ چې په پسه کې زهر اچول شوي دي څو اصحابو کرامو هم دا غوښه وخوړه، وروسته پیغمبر ﷺ یهودیان راغونډ کړل او ورته ئې وویل: چې زه ستاسو نه یوه پوښتنه کوم خو رښتیا به راته وائئ، هغوی وویل صحیح ده، پیغمبر ﷺ پوښتنه وکړه چې تاسو د چا اولاد یاستئ؟په ځواب کې ئې ورته وویل د فلانی، پیغمبر ﷺ بیا ورته وویل: چې تاسو ټول دروغ وائئ ستاسو پلار فلانی دی... هغوی ورته وویل چې بالکل دې رښتیا وویل. پیغمبر ﷺ بیا وویل: چې زه ستاسو نه بله پوښتنه کوم رښتیا به راته وائئ،بیا ئې ورته وویل: چې صحیح ده. که مونږ دروغ وویل ته خو پوهيږې، پیغمبر ﷺ ورته وویل،چې دوزخیان څوك دي؟ هغوی په جواب کې ورته وویل چه مونږ به څو روځې په دوزخ کې یو بیا به تاسو زمونږ ځای نیسئ.

پیغمبر ﷺ ورته وفرمایل؛ چې تاسو به همیشه په دوزخ کې یاستئ مونږ به هیڅکله ستاسو جانشین نه شو، پیغمبر ﷺ بیا وویل؛ زه ستاسو نه پوښتنه کوم رښتیا به راته وائئ، په جواب کې ئې وویل،صحیح ده، پیغمبر ﷺ ورته وفرمایل؛چې تاسو ولې په پسه کې زهر اچولي وو؟

په جواب کې ئې ورته وویل چې مونږ ددې دپاره زهر اچولي وو چې که ته دروغجن ئې چه درنه په راحت شو او که پیغمبر ئې نو تاته زهر کوم ضرر نه رسوي.

بیا ئې هغه ښځه راوغوښتله او د هغې څخه ئې پوښتنه وکړه زهر دې ولې اچولي دي؟

په جواب کې ئې ورته وویل ددې دپاره چې که ته دروغجن ئې چې خلك درنه په آرام شي او که پیغمبر ئې نو ضرر درته نه رسوي.

پیغمبر ﷺ ورته په جواب کې وویل؛چې ته الله تعالی زما د قتل دپاره نه ئې مقرره کړې. باید وویل شي چې د وریت شوي پسه د غوښې د خوړلو په اثر یو اصحابي هم په شهادت ورسیدهٔ. پیغمبر ﷺ هغه ښځه د قتل په سزا محکومه کړه، هر کله چې زمونږ ستر رهبر حضرت محمد ﷺ د زهرو ورکولو په مقابل کې د قتل سزا ورکړې ده نو اوس هم چې هر څوك په دې جنایت باندې د خلکو د وژلو سبب کيږي په همداسې اشد مجازات باید محکوم کړې شي.

لنډه دا چې هر څوك چې ددې ډول غیر اسلامي او غیر انساني پیښو مرتکب کيږي په میوو او سبزي جاتو کې زهرجن مواد پیچکارۍ کوي او د مسلمانانو ژوند ئې په خطر کې اچولی دی او د افغانستان مظلوم او کړیدلی ملت په تباهۍ او بربادۍ پسې ئې راخستی ده د هر چا او د هرې ډلې لخوا چې دغسې جنایات کيږي عاملین ئې باید د تحقیق او د جرم د تثبیت نه وروسته په عالنی توګه مجازات شي تر څو د نورو د عبرت او انتباه وسیله وګرځي.

یعنی د حارث د لور یهودي ښځې په شان دې د مرګ جزا ورکړې شي. زه په ټینګار سره وایم چې دغه کسان د غتې او عبرتناکې جزا وړ دي او ټول امنیتي او عدلي ارګانونه دې په دې برخه کې خپلې سپېڅلې وظیفې په ښه شان او په خپل وخت سرته ورسوي.

درنى وسلى هغه وخت راټوليدى شى چې

مشران د خلوص او پاك نيت نه كار واخلي، د

ټوپك او كوټك خبرى دې نورى نفي كړى شى

ډگر جنرال «اريوب وال»

په دې ورځو کی چی د شیطان غوبونه دی کانه وی د تنظیمونو تر مینځ جنگ غلی شوی دی او صورت حال د بنه کیدو په حال کی دی، د درنو وسلو د ټولولو او د دفاع د وزارت گډ تنظیمی کمیسیون ته د حواله کولو خبری تودی روانی دی، په کابل کی ددعوت د مجلی خبریال د دفاع د وزارت د مرستیال ډگر جنرال محمد گل اریوب وال سره په دی ارتباط مرکه کړی چی په لاندی متن سره وړاندی کیږی.

پوښتنه: د درنی وسلی د راجمع کولو او ټاکلی کمیسیون ته د سپارلو پروژه په کوم پړاو کی ده،آیا کیدی شی چی په حقه سره د تظیمونو څخه درنی وسلی د همدی پروگرام لاندی راټولی شی؟

جواب:- اساسی خبره خو داده که چیری د تنظیمونو مشران چی تر اوسه پوری په خپلو مینځو کی د ذات البینی اختلافاتو د حل و فصل په مقصد یی (۷۹) لوظنامی لاسلیك کړی دی او اخیری معاهده د جلال آباد ده،په خپلو خبرو او وعدو عمل وکړی هر څه کیدی شی. یا په بله وینا هغه وخت چی جهادی مشران د خلوص او پاك جهادی عزم څخه کار واخلی درنی وسلی راټولیدی شی، زه چی ددی کمیسیون غړی یم او په ظاهره د ټولو تنظیمونو مشران ددی پروگرام سره موافق دی خو بیا هم موانع شته دی او د زړۀ له کومی یو مشر هم په دی لاره کی عملی او غوڅ گام لانه دی پورته کړی.

زه دا باور لرم که چیری د هر تنظیم مشر خپلو قوماندانانو ته هدایات صادر کړی چی درنی وسلی کمیسیون ته وسپاریٔ، یو ئی هم خلاف ورزی او تمرد نه کوی او که خبره په تشو خبرو او اطلاعیه کی وی نو دا کار هر گیز نشی کیدی او د وخت د ضایع کیدو نه پرته بله هیڅ گټه وړاندی مرتبه نه ده. په داسی حال کی چی د وسلی دټولولو ځانگړی کمیسیون اعلان وکړ چی دری اختصاصی کمیسیونه ئی جوړ کړی او عملاً به د وسلی په راجمع کولو پیل وشی، خو تر کومه ځایه چی زه معلومات لرم په دی باره کی هیڅ مطلوب پرمختگ نه دی شوی او آن تر دی پوری چی مونږ تر اوسه پوری د تنظیمونو د وسلو ډیپوگان هم نه دی لیدلی او نه مو دا معلومات حاصل کړی دی چی کوم تنظیم څومره او څه ډول وسلی لری او چیری دی؟

پوښتنه: که چیری تنظیمونه بی وسلی شی، د امن په تأمین به څه تاثیر وغورځوی او کوم سهولتونه تری متصور دی؟

جواب: همدا اوس خو په اکثره مواردو کې حکومتي انتظامیه د ټوپك او کوتك په زور سره چلیږي، هر څوك چه قوي او درنه وسله ولري د همغه قانون نافذ دی. په عسکري لحاظ د تسلسل نظام ویجاړ دی، مرکزي حکومت جوړ دی خو هر تنظیم په خپل زور روان دی او د اولو الأمر د اطاعت لړۍ ئې کمزوري کړې ده.

که چیرې ددرنو وسلو د ټولولو پروګرام په یقیني توګه عملي شي نو په همغه صورت کې به بیا موجوده نظامي تنظیمونه سیاسي شي او د ملت په وړاندې به ئې سیاسي او ملي هویت ډیر ښه څرګند شي، بې له شکه دا به هم څرګنده شي چه کوم تنظیم په اسلامي طریقه د ملت خدمت کوي او کوم ئې د څوکیو د نیولو او د پیسو د راټولولو نیت درلود، زه دا یقین لرم چه تنظیمونه بې وسلې کړې شي، جنګونه به بند شي او موجوده خود سرې به پای ته ورسیږي چه خامخا د امنیت په تأمین او د مرکزي قوي حکومت د جوړیدو ښه امکانات هم په لاس راتلې شي.

پوښتنه: لکه چه لیدل کیږي د حزب اسلامي او جمعیت اسلامي تر مینځ سړه او تبلیغاتي جګړه جاري ده او خلق د یوې بلې تنظیمي جګړې احتمالات پیش بیني کوي تاسو دا خطره څنګه ګڼئ؟

ځواب: دا صحیح ده چه حزب اسلامي او جمعیت اسلامي دواړه په ظاهره په یوه دولت او حکومت کې راټاله دي خو په باطن کې د خپلو تبلیغاتي چینلونو د لارې یو پر بل پسې تبلیغات کوي او د سرې جګړې خطر ئې مینځ ته راوړې دی، خو بیا هم زه د تودې جګړې د پیښیدو کومې علامې نګورم خو چه سرې د ځینو تنظیمونو نادودو ته وګورې چه د الله جل جلاله د اوامرو نه سرکشي کوي هر څه ترې متصور کیدی شي یعنې اکثره داسې دي چه د وطن په وړاندې د مسئولیت احساس نکوي د ځوارلس کلن جهاد اهداف او کړاوونه ئې هیر کړي دي، ځکه نو دغسې اشخاص دهیڅ ډول اسلامي ضوابطو خیال نه ساتي او د ټوپك او واټسن په ذریعه خپل مشن په مخ بیائي.

پوښتنه: لکه چه لیدل کیږي د مرکز او ولایاتو تر مینځ لوی لارې د پاټکونو د لاسه غیر مطمئنې او حتی خطرناکې دي، د دفاع وزارت ولې نشي کولی دغه مزاحمتونه ایسته کړي؟

ځواب: که څه هم اکثره تنظیمونه او مشران په دې باندې خبر دي چې په لویو لارو کې یو شمیر قطع طریقانو پاټکونه اچولي دي او په نا جایزه توګه د موټرو او خلکو نه باج اخلي او د اسلامیت او انسانیت خلاف اعمال سرته رسوي، خو بیا هم ځینې مشران دا جهادي پاټکونه نه بولي. زه دوی ته وایم که چیرې دغه کسان مجاهدین وي او که کمونستان خو بیا هم ستاسو ذمه واري ده چې ددې مصیبت نه خلك خلاص شي او پوستې ورته رنګي کړې شي، خو یو هم په دې باره کې عملي او غوڅ اقدام نه کوي او د یو نیم کال نه راهیسې دغه د اسلام په جامه کې غله او لارې وهونکي په لوټ او تالان بوخت دي او زمونږ جهادي هویت ته ئې سخت تاوان رسولی دی، دا کار د دفاع د وزارت د لاسه ځکه پوره نه دی چې هر تنظیم په خپله قومانده چارې سمبالوي او هر چا خپلو خپلو سړو ته وسلې ورکړې دي دا کار د تنظیمونو مشران کولی شي چې هر یو خپله پوسته رنګه کړي او خپل سړي بې وسلې کړي، په دې کار کې هم د نیت خلوص وجود نلري او په تشو الفاظو کې کله کله ویل کیږي چې هر څوك کولی شي په داده زړهٔ د مرکز نه ولایاتو او د ولایاتو نه کابل ته راشي او د پاټکونو والا به ورته هیڅ نه وائي، خو ورځنی اطلاعاتو او عیني شاهدانو څرګنده کړې ده چه د پاټکونو غیر مسئول کسان چې د ټوپکونو او رنګارنګ جنډو سره ئې لوی لارې په قبضه کې اخستې دي په هره ناجایزه وسیله چې کیدی شي د ناراستۍ روالانه دي.

جمهوریت د اسلام په رڼا کې

دشهید شیخ جمیل الرحمن رحمه الله له خطباتو څخه

ځینې خلك داسې فکر کوي چه انتخابات د یو ملت د سرنوشت د ټاکلو لپاره یوه غوره طریقه او لاره ده، که څه هم په دې پوهیږي چه دا طریقه یوه پوره اسلامي طریقه نه ده، بلکې د مصلحت په خاطر دستونزو د هوارولو یوه غوره لاره ده.

همدا راز یو شمیر نور خلك وایي چه انتخابات یوه اسلامي طریقه ده او په اسلام کې پوره اصل لري چه هغه له شورئ څخه عبارت ده او انتخابات د شورئ لپاره یو مترقي ډول دی. په هر صورت مونږ باید د یو انتخاباتي نظام او شورئ پر معنئ او مفهوم ځان پوه کړو او د دواړو تر منځ باید فرق وکړو.

دادی په دې باب د افغانستان د جماعة الدعوة الى القرآن والسنة شهید أمیر شیخ جمیل الرحمن رحمه الله «جهاد کنفرانس» ته چه په (۱٤۰۹هـ ق) کال د پیښور په الجامعة الأثریة کې دایر شوی ؤ؛ وینا کړیده، چه مونږ یې متن ددعوت مجلې له لارې خپلو قدرمنو لوستونکو ته وړاندې کوو.

الحمد لله نحمده ونستعينه و نستغفره و نتوكل عليه و نعوذ بالله من شرور أنفسنا و من سيئات أعمالنا من يهدالله فلا مضل له ومن يضلل فلا هادى له ونشهد أن لا إله إلا الله ونشهد أن محمداً عبده ورسوله.

أما بعد: فأعوذ بالله من الشيطان الرجيم، بسم الله الرحمن الرحيم*

«ثم جعلنك على شريعة من الأمر فاتبعها و لاتتبع أهواء الذين لا يعلمون* إنهم لن يغنوا عنك من الله شيئا و إن الظلمين بعضهم أولياء بعض والله ولي المتقين* (سورة الجاثية-۱۸-۱۹)

محترمو طلباؤ او درنو مسلمانانو ورونو!

هغه موضوع چه زما لپاره تعین شویده او ماته چه پدې باب کوم کارت رالیږل شویدي، هغه موضوع «جمهوریت»دي.

مخکې له دینه چه زه د جمهوریت اجمالي مفهوم بیان کړم، دا ماهیت او مفهوم د اسلام سره مقایسه کوو او د هغې متعلق حکم کوو، ددې نه مخکې دې ته ضرورت دی چه دوه مسئلې باید وڅیړلې شي. یوه مسئله دا چه دیوه مسلمان د مسلمانۍ واجب او ضرورت دادی چه هغه دمسلمانۍ د حکم لاندې ژوند تیر کړي. دوهمه مسئله داده؛ داسلامي حکم او اسلامي نظام دقیام چه داسلام له نظره کومه طریقه ده یعنې په کومه طریقه چه اسلامي نظام منځ ته راتلای شي، په

دغه طريقه بايد عمل وشي.

دا چه وخت هم کم دی اونه له ماسره توان شته چه دومره مفصل بيان وکړم او په بحث اضافه وکړم، خو دوخت د کموالی په نسبت زه دومره ويلی شم. د يو مسلمان د ژوند ضرورت دادی چه د خپلی مسلمانۍ د واجباتو لاندی چه هغه اسلامي حکم دی ژوند تير کړي. دا يو اسلامي حکم دی چه ما وکړ او دی ته د هر مسلمان ضرورت دی. دا حکم د قرآن پاك او نبوی حديثو په رڼا کی ډير ښه تشريح شويدی او دغه حکم تری صادر شويدی.

هغه څوك چه دا (لا إله إلا الله محمد رسول الله) کلمه وايي، ددي دا معنی ده چه دا دټولو طاغوتی حکمونو او قوانينو له بندګۍ څخه راووت او د الله تعالی د بندګۍ تصور او احساس ورسره پيدا شو او د الله جل جلاله په بندګۍ کی به خپل ژوند را بندوی. چه يو سړی د «لا إله إلا الله» کلمه وايي اوسره لدی د هغه ژوند د طاغوتی قوانينو او طاغوتی قدرتونو لاندی سرته رسيږی، دا سړی په کومو حالاتو معذور ګڼلی شی؟ دی سړی چه دا کلمه ويلی ده د کلمی دويلو په نسبت دا سړی منافق، کاذب او دروغجن ګڼل کيږی. د هغو خلکو په باب چه هغوی د «لا إله إلا الله» کلمه ويلی ده او خپل ځانونه مسلمانان ګڼی او ځانونه ددغه جاهلي معاشری او ټولنی څخه نه اوباسی يعنی هجرت نه کوی، الله تعالی په قرآن پاك کی فرمايي: «فما لكم في المنافقين فئتين والله أركسهم بما كسبوا أتريدون أن تهدوا من اضل الله ومن يضلل الله فلن تجد له سبيلا*»

(سورة النساء-۸۸).

څه خلك داسی وو چه هغوی خپل ځانونه مسلمانان ګڼل ، هغوی د «لا إله إلا الله» کلمه ويلی وه، خو هغوی په طاغوتي قوانينو او د جاهليت په ټولنه او معاشره کی خپل ژوند سرته رساؤ. دا طبعي خبره ده چه سړی په کومه ټولنه او مجتمع کی ژوند کوی، دا د هغی ټولنی پرزه ده او هغه يي څرخوی.

پدی باب صحابه کرامو ته هم يو اختلاف را پيدا شوی ؤ. دا خلك چه ځانونه مسلمانان ګڼی، او کلمه وائی او د جبر او زور په وسيله د اسلام پر ضد څرخيږی او د مسلمانانو په مقابل کی ولاړدي، الله تعالی د هغوی په باب فيصله وکړه چه آيا دوي ته دهجرت لاره آزاده نه وه؟ دوي ته دا اجازت نه دی ورکړل شوي چه د غير اسلامي قوائيدو او طاغوتی قوانينو لاندی ژوند تير کړی. ايا دوي سره دا طاقت نشته چه دوی هجرت وکړی؟ ددوي په باب دا فيصله کول چه دوي دمسلمانانو ورونه دی او مسلمانان دی، بی ځايه ده. الله تعالی فرمايي: تاسو د منافقينو په باب ولی دوه ډلی شوي ياست؟ قرآن پاك د هغوی تعبير داسی وکړ: ايا تاسو دا اراده لري چه د هغه چا په حقله فيصله وکړئ او د هدايت حکم ورکړئ چه الله ګمراه کړی دی؟ الله چه څوك ګمراه کړي يعنی د چا په حقله چه د ګمراهۍ فيصله وکړی نو وروايئ چه دا ګمراه دی له دی وروسته دبل چا فيصله يعنی د هدايت فيصله بی ځايه ده. الله تعالی دداسي خلکو په هکله وايي: ددوی نه اولياء او واليان مه نيسئ، ددوي نصرت او ولاء مه قبلوئ او تاسو هم ورسره نصرت او ولاء مه کوئ، تر دی چه دوي ددغه جاهليت له ژوند او معاشری نه او ددغه طاغوتی قوانينو له سلطي نه خپل ژوند ونه باسي. «فلا تتخذوا منهم أوليآء حتى يهاجروا»

(سورة النساء-۸۹)

نن يوه ډله خلك د «لا إله إلا الله محمد رسول الله» کلمه وايی او د مسلمانۍ دعوه کوی، ليکن د طاغوتي قوانينو لاندی ژوند تيروی، دوي داسی فکر کوی چه دلته د اسلامي قانون منځته راتګ او په خلکو مسلط کيدل يوازي د ووټ او

آیت کې ورکه کړې ده چه فرمايي: «المستضعفين من الرجال والنساء والولدان» ضعيفان له بوډاګانو، زنانه ؤ او ماشومانو څخه عبارت دي. لدی نه معلومه شوه چه د اسلامي نظام د قيام له پاره هيڅ بهانه نشته، تر څو دا نظام قايم نشي، ځکه اسلامي قانون د انسانيت د ژوند هدف دي.

د مثال په توګه کله چه تاسي پسې پوليس (ددغه قانون محافظين) راځي، تاسي محکمې ته ځئ که نه؟ ددغه قانون د حاکم مخې ته ودریږئ کهٔ نه؟ یا که په سړك ځئ ددغه سړك تولو قوانينو ته تسليم يئ که نه؟

دمسلمان لپاره يوازې دا اواز کفايت نه کوي چه دا نه منو! بلکې ژوند به ددې قانون لاندې نه تيروي او عملاً به يې وباسي. ددې قانون لاندې ژوند تيرول دا معنی لري چه دې قانون ته تسليم يې او په ځان دې قبول کړی دی، دا طاغوتي قانون د تش اواز په قوت له منځه نه ځي، بلکې عملاً ترې وتلو او مخالفت کولو ته ضرورت دی او دا مخالفت اسلام ډیر ښه واضح کړی دی. هغه طريقه چه په طاغوتي نظام کې تش په اواز د هغه قانون مخالفت دی، دا بدعت او مردوده طريقه ده. داسلامي حکم قيام چه يوه مهمه فريضه ده دا طريقه يې ډيره ښه ښودلې ده چه هغه «دعوت» او «جهاد» دي. کله چه سړی د «لا إله إلا الله» کلمه ووېله؛ هغه به په دعوت پيل کوي او که ددعوت په وړاندې موانع راځي نو د جهاد پيل به کوي. په اسلام کې دعوت اوجهاد او قتال له لارې اسلام قيام موندلی دی او په خلکو مسلط شویدي. ايا مونږ اوس دا طريقه پريږدو!! او ددې په ځای هغه طريقه چه مونږ او تاسو ته داسلام د دښمنانو لخوا راغلې ده خپله کړو! ددې طريقې د تزين او ښايسته کولو لپاره هغهٔ ځوك کوښښ کوي چه د همدغو (داسلام ددښمنانانو) د فکر نه زيږيدلي او ددوی د فکر او ايډيالوژۍ محصول دی او همدغه خلك د جمهوريت او ډيموکراسۍ چغې وهي او دغه ډول طاغوتي طريقې ته «جمهوريت» وايي.

ورونو! دا باطله او داسلام څخه مخالفه طريقه ده. ما د يو شيخ صاحب نه چه ځانته شيخ الحديث وايي؛ تپوس وکړ چه د جمهوريت په باب دې څه خيال دی؟ هغه راته په ځواب کې ووېل: چه جمهوريت خو يوه اسلامي طريقه ده او داسې يو دليل يې راته وړاندې کړ: «فاليتبع الأقل الأكثر» چه اقل (لږ) به د اکثر (ډيرو) اتباع کوي. د نوموړي ددې دليل معنی خو داده چه العياذ بالله! د انبياؤ عليهم السلام دعوت ته باطل نظر وشو، ځکه پيغمبران خو له اقلو نه وو، يعنی يو سړی به ؤ داالله تعالی له لورې به ددعوت چلولو لپاره مبعوث شوی ؤ او اکثرو ته به يې دعوت ورکاؤ.

نو معلومه شوه چه دهدف او غايې په لحاظ د انتخاباتو او ډيموکراسۍ لارې او طريقې د اسلام پر ضد لارې او طريقې دي.

تاسو وينئ په هغو اسلامي هيوادونو کې چه دغه ډول ډيموکراسي نظام لري، خلك په کلونو کلونو چغې وهي او لګيا دي، مګر په هيواد کې اسلامي نظام نشي راوستلای، دا تجربه هغو خلکو ته ډيره ښه په ثبوت رسيدلې ده او ددغه نظام ترخې تجربې تاسې هم وګورئ او له لږ غوندې غور او فکر نه کار واخلئ.

اوس ځينې اشخاص چه د اسلامي فکر او فهم نه محروم دي، داسلام دښمنان يې په افغانستان کې ددغه ډول ډيموکراسی نظام د راوستلو لپاره استعمالوي او دا کوښښ کوي چه دغه طريقه په افغانستان کې هم رايجه کړي، تر څو پکې داسلام دښمنانو ته د لاس وهنو يوه ډيره ښه زمينه هر وخت مساعده وي.

او ددې خاورې مسلمانان داسلامي نظام له فيوضو نه محروم پاتې شي او د آرامۍ او سوکالۍ ساهٔ وانهٔ خلي.

وآخر دعوانا أن الحمد لله رب العالمين.

والسلام عليكم ورحمة الله وبركاتهٔ

انتخاباتو له لاری کیدی شی او له همدی لاری منځ ته راځي.

څوک چه دا کلمه وایي چه «لا إله إلا الله» ددې کلمي د واجباتو نه خو داده چه داسلامي حکم او اسلامي نظام لاندې زندگی تیره کړی او د ا واجب به کله او له کومی لاری به پوره کیږی؟ ددی کلمی په ویلو سره پر مونږ واجبه شوه چه زمونږ پرسر هر طاغوتي قانون وی، دا باید ختم کړو او له دی خپل ژوند او معاشره جلا کړو. پدی هکله پیغمبر صلی الله علیه وسلم فرمایي: «زه بیزاره یم له هغه چا نه چی د کافرو په منځ کی اوسیږی» قرآن پاك که سړی صحیح مطالعه کړی ورته معلومه به شی، هغه خلك چه په سلو کی (۹۰) مسلمانان دی، په سلو کی لس یا په سلو کی یو د غیر اسلامي قانون لاندی ژوند تیروی او په دغه قانون راضي او مطمئن وی او خپل قوتونه ددغه غیر اسلامي قانون د ازالی لپاره په کار نه اچوی، دا مسلمانان نشی گڼل کیدلای.

الله تعالی فرمائي: إن الذين ارتدوا على أدبارهم من بعد ما تبين لهم الهدى الشيطن سول لهم واملى لهم﴾(سورة محمد -۲۵)

هغه کسان چه مرتد شویدی پس له هغی چه دوي ته هدایت شویدی او لاره ورته معلومه شویده.

ارتداد یي په څه دی؟ ذلك بأنهم قالوا للذين كرهوا ما نزل الله سنطيعكم في بعض الأمر والله يعلم إسرارهم﴾

(سورة محمد -۲۶)

هغه خلك چه هغوي ته د الله تعالی حکم او قانون مقبول او محبوب نه وی او دوي د غیر الله د قانون تابعداری کوی او د الله تعالی په قانون راضی او خوشحاله نه وی، دی ته قرآن پاك ارتداد یا له اسلام څخه واپس کیدل وائي.

لومړی باید هر مسلمان دا وپیژني چه د کلمی د ویلو او زما مسلمان گرځیدلو معنی داده چه زه د طاغوتي قوانینو د بندگی نه خپل ژوند وباسم، زما ژوند به یواځی د الله تعالی د حکمونو او د الله تعالی د بندگۍ په چوکاټ کی را بندیږی، دا د مسلمانۍ کلمه ده، ددی معنا داده چه د هر مسلمان دا فریضه ده چه هغه د اسلامي حکم اقامه وکړي. دهر مسلمان دا فریضه ده چه خپل ټول قوتونه د اسلامي حکم د اقامي لپاره مصرف کړی او په کار یی واچوی.

هغه خلك چه هغه د جاهلیت په جامعه او ټولنه کی راضي وی او وخت تیروي او د دی لپاره کوښښ کوي او وایی چه د ووټ او چغو په ذریعه به اسلامي حکم راځي. ددغو خلکو په

هکله الله جل جلاله فرمایی: إن الذين توفهم الملائكة ظالمي أنفسهم قالوا فيم كنتم قالوا كنا مستضعفين في الأرض قالوا ألم تكن أرض الله وسعةً فتهاجروا فيها فأولئك مأوهم جهنم وسأت مصيرا﴾ (سورة النساء- ۹۷)

هغه خلك چه د جاهلیت، طاغوتي او انساني موضوعه قوانینو لاندی خپل ژوند سرته رسوی، ملایك به د ځنکدن په وخت کی ورته ووایي: «فيما كنتم» ایا تاسو په څه کی وي؟ ستا لپاره څه عذر ؤ؟ دوي به ځواب ورکړی :«قالوا كنا مستضعفين في الأرض» مونږ خو ضعیفان وو او زمونږ قدرت نه رسیدۀ. «قالوا ألم تكن أرض الله وسعةً فتهاجروا فيها» آیا د الله تعالی ځمکه پراخه نه وه چه هجرت مو کړی وي؟ دالله تعالی ځمکه پراخه نه وه چه تاسي په ارام ژوند کاوه او په دی خوشحاله وی، که دلته هر قانون دی خو دا اواز کفایت کوی چه دا نه منو! لیکن عملاً تسلیم یاست.

«فأولئك مأواهم جهنم وسآءت مصيرا﴾» دغه خلك سره لدی چه ځان ته مسلمانان وایي او ژوند د طاغوتي قانون لاندی تیروی د دوي مأوی او پناگاه جهنم دی چه ډیر بد ځای دورتلو دی. او ددوي د ضعف بهانه هم الله تعالی د سورة النساء په (۷۵)

تعلیمات اسلامی

خلاصه عقاید دین اسلام

شیخ الحدیث مولانا عبدالسلام بستوی

سوال: شما را چه کسی آفریده؟

جواب: ما را الله تعالی آفریده است.

س: زمین، آسمان، ماهتاب، خورشید، ستاره ها و تمام انسانها و حیوانات و حشرات را چه کسی آفریده است؟

ج- همه را الله تعالی آفریده.

س- الله تعالی یعنی چه؟

ج- الله تعالی آن ذات وهستی است که بودن آن حتماً ولازماً است وهمه خوبیها در آن وجود دارند، او بر همه قدرت دارد و هر چه را خواسته باشد میکند هیچکس وهیچ چیز مانع در اراده و فعل او نمیتواند باشد. در زمین و آسمانها و هر جا او را پادشاهی است. و ی سخن هر یك را میداند، هیچ از وی پنهان و مخفی نمیتوان شد. اگر در تاریکی شب مورچه یی بر سطح صخره یی بگردد صدای پای آنرا میشنود و آنرا می بیند. او همیشه و ابداً زنده است و زنده خواهد بود. مرگ ندارد.

او را کسی نیا فریده او از تمام عیوب پاك است، نمیخوابد نه میخورد و نه می آشامد بلکه به همگان روزی میدهد و آب میدهد او همه را می میراند و زنده میکند و میسوزاند، مطابق حکم او مردم می میرند وزنده میشوند. او باران را نازل میکند وهوا به حکم و امر او میوزد، خورشید و مهتاب بامر او طلوع و غروب میکنند، تمام سبزیها نباتات و غله ها را میرو یاند، اوست که به مردم ثروت میدهد و از آنها باز میگیرد یعنی غنا و فقر انسانها و غربت و ثروت ایشان بدست قدرت اوست. اوست که انسان را بیمار میکند وصحت میدهد، او بانسان روزی و اولاد میدهد او واحد و یکتا است، هیچکس و هیچ چیز با او شریك نیست، او محتاج کسی نیست وهمگان نیازمند اویند. فقط او احق ولایق بند گی و عبادت است از بندگی کردن انسان خوش میشود و از نافرمانی کردن نا راض میگردد. او با انسانها مهربانتر از پدران و مادران شان میباشد. او پرورنده همگان است و علاوه برین خوبیهای بیحساب بی عدد دیگر انر که انشاء الله تعالی در قسمت دوم تعلیمات اسلامی بیان خواهندشد.

س- قبول کننده الله تعالی را چه می نامند؟

ج- قبول کننده گان الله تعالی را «مسلم» و مؤمن می نامند یعنی آنانکه از صدق دل بر الله تعالی و رسولان او ایمان بیاورند وعمل کنند.

س- ایمان یعنی چه؟

ج - پذیرفتن تمام احکام الله تعالی و رسول الله ﷺ را از صدق دل و اقرار آنرا بزبان و عمل کردن مطابق آنرا ایمان میگویند.

س- کلمه توحید چیست؟

ج- کلمه توحیذ است «لا إله إلا الله» یعنی جز الله تعالی هیچکس و هیچ چیز معبود بر حق نیست.

س - کلمه رسالت چیست؟

ج- محمد رسول الله یعنی محمد ﷺ رسول بر حق اوست.

س- کلمه شهادت یعنی چه؟

ج - کلمه شهادت است «أشهد أن لا إله إلاالله و أشهد أن محمد رسول الله» یعنی گواهی میدهم که هیچکس جز الله تعالی معبود بر حق نیست و گواهی میدهم که محمد ص رسول الله تعالی است.

س- مقصد این کلمه ها چیست؟

ج - لفظ «إله» که درین کلمه ها است معنی آن معبود والله است و

الله آنرا میگویند که مالك و پادشاه و آفریدگار و پروردگار همگان باشد، روزی دهنده و فریاد رس و احق تمام عبادات باشد. پس وقتیکه شما گفتید « لا إله إلا الله» معنی اینست که قبل از همه شما اقرار کردید که این جهان بدون الله تعالی خود بخود ساخته نشده، حتماً ولازماً آفریننده یی دارد و آن همین الله واحد ویکتاست. إله نمیتواند چندین تا باشند و یکتا نباشد، چرا که اگر إله جز الله تعالی چندین تن باشند آنگاه انتظام و نظم جهان بر هم میخورد، پس پید است که الله تعالی واحد و لا شریك است و همان احق عبادت و بندگی است جز وی هیچکس و هیچ چیز مستحق ولائق عبودیت و بندگی شده نمیتواند ما همه بندگان وغلامان او ییم. غیر از وی بندگان و غلامان هیچکس نیستیم همان الله تعالی بادار و مالك ماست، ما سوای او هیچکس بادار حقیقی و حاکم مطلق ما نمیتواند باشد. او آفریننده تمام جهان و کائنات است کسی دیگر جز او خالق و مالك نیست کسی دیگر جز او نیست که انسان را بمیراند یا بسوزاند و یا به کسی راحت و مصیبت برساند. همچو پذیرفتن الله تعالی توحید است، و کسی که الله تعالی را یکتا و واحد میداند مؤحد است. و اگر «نعوذ بالله» دو یا اضافه تر ازدو «إله و الله» را عقیده داشته باشد آن عقیده شرك است و چنین یك معتقد مشرك است و شرك بزرگترین گناها است. الله تعالی این گناه را قطعاً عفو نمیکند و مشرك به بهشت داخل نخواهد شد انسان نباید در هیچ حالت مشرك باشد.

سخنهای زیادی در باره توحید و شرك هستند که انشاء الله تعالی آنرا در قسمت دوم وسوم این تعلیمات خواهید خواند.

و جزء دوم کلمه طیبه محمد ﷺ است مقصد از آن اینست که محمد ﷺ بنده و رسول الله تعالی است.

س- رسول یعنی چه؟ رسول چه کسی میباشد؟

ج- معنی رسول ایلچی و قاصد و پیغام رسان است و در اصطلاح و محاوره شریعت به مفهوم ومعنی آن انسان نیکو رسول است که الله تعالی او را کتاب آسمانی نازل فرموده وبرای هدایت به مخلوق خود و فلاح و بهبود انسانها فرستاده و مبعوث کرده باشد، او را نبی و پیغمبر نیز میگویند « سلام وصلوة الله علیهم اجمعین».

س- رسولان چه نوع مردم میباشند؟

ج- رسولان بندگان برگزیده الله تعالی و معصوم و پاك از گناهان میباشند و هرگونه خوبیها در آن جمع میبودند و حکم الله تعالی بوسیله فرشتگان بانها فرستاده یا نازل می شدند.

آنها احکام الله تعالی را از فرشتگان می شنیدند و به مخلوق الله تعالی میرسانیدند به عمل اعمال نیك حکم میکردند و از بدیها منع میکردند. به قبول کنندگان احکام الهی مژده بهشت میدادند و منکران و نافرمانان را از عذاب و دوزخ بر حذر میداشتند. آنها با مردم ازپدران ومادر ان شان نیز مهربانتر بودند.

س- آیا پذیرفتن حکم رسولان فرض است؟

ج- بلی قبول حکم رسولان فرض است.

س- مقصد از پزیرفتن حکم رسولان چیست؟

ج- مقصد از آن اینست که احکام وقوانینی که ایشان علیهم السلام از جانب الله تعالی آورده بودند آنرا تابعداری و پیروی و اطاعت کنید. همانطور یکه آن مردم «رسولان» زندگی شانرا با احکام الله تعالی مطابقت داده بودند و بما گفته اند که ما نیز باید چنان زندگی کنیم و زندگی خود را با احکام الله تعالی مطابقت بدهیم. اکنون شما مقصد کلمه طیبه را دانسته باشید تشریح مزید آن در قسمتهای آینده این گفتار خواهید خواند.

س- حضرت محمد ﷺ در کجا به دنیا آمده بودند؟

ج- پیغمبر عزیز ما حضرت محمد ﷺ در مکه معظمه یکی از شهرهای بسیار مقدس کشور عربستان سعودی بدنیا تشریف آورده بودند.

س- نام پدر و مادر شان چه

بودند؟

ج- نام پدر شان حضرت عبدالله و نام والده بزرگوار شان آمنه بود.

س- عمر مبارك شان چند سال بود که سرفراز به نبوت گردید؟

ج- زمانیکه عمر مبارکشان به چهل سالگی رسید، الله تعالی ایشان را سرفراز به نبوت ساخت و نزول قرآن مجید بروی آغاز یافت.

س- تا چند سال بعد از نبوت در شهر مکه معظمه بودند؟

ج- مدت ۱۳ سال پس از شروع نبوت در مکه معظمه بودند.

س- ایشان چه وقت از مکه معظمه به مدینه منوره هجرت فرمود؟

ج- ۱۳ سال بعد یعنی زمانیکه عمر مبارکشان به ۵۳ سال رسیده بود کفار مکه ایشان را بسیار ازار داد و پریشان کردند، پس ایشان به حکم الله تعالی از مکه معظمه به مدینه منوره هجرت فرمودند و در آنجا تا مدت (۱۰) سال زندگی کردند و بعمر شصت وسه سالگی ازین جهان رحلت فرمودند ﷺ.

س- کسی که ایشان را رسول الله ﷺ نداند چطور است؟

ج- کسي که حضرت محمد ﷺ را رسول الله ﷺ ندادند کافر است.

س- آیا رسول یا نبی ئی بعد از وی میتواند باشد؟

ج- ایشان خاتم النبیین اند، هیچ نبي یا رسولی بعد از ایشان نمیتواند باشد.

س- اگر کسی وی را خاتم النبیین نداند و بگوید که نبی دیگری نیز بعد از وی میتواند باشد چنین شخص را حال چه باید باشد؟

ج- چنین شخص کافر است، چرا که او منکر و مخالف قرآن و حدیث است.

س- آیا آنحضرت ﷺ بهتر از تمام انبیاء و بهتر و افضل از تمام مخلوق است.

ج- بلی، آنحضرت افضل تر و بهترین از تمام انبیاء و تمام مخلوق میباشند و سردار تمام رسولان است.

س- ارشادات حضرت محمد مصطفی ﷺ چیست؟

ج- ارشادات طیبات آنحضرت بسیار است که برخی از آنرا درین قسمت بیان میکنیم و باقی در قسمتهای آینده بیان خواهند شد.

«آنحضرت میفرمایند که آفریننده تمام مخلوق و کائنات واحد و یکتاست که نام او الله تعالی است بر آو ایمان بیاورید یعنی یقین کامل و بلا شك بر او داشته باشید و او را خاص عبادت کنید، حکم او را قبول کنید و تمام انبیاي او را بر حق بدانید و بر رسولان، کتابهای فرستاده او وفرشتگان او ایمان ویقین بلا شك داشته باشید. بهشت و دوزخ حق است و زندگی بعد از مرگ حق است روز قیامت حساب و محاسبه بروز قیامت و عذاب عالم برزخ و ثواب آن حق است ونیکی و شر از طرف الله تعالی است یعنی چنین بگویید که :

« أمنت بالله و ملا ئکته و کتبه و رسوله و اليوم الآخر و القدر خيره وشره من الله تعالی والبعث بعد الموت»

این را ایمان مفصل میگویند.

س- ایمان مجمل چیست؟

ج- ایمان مجمل اینست که بگوید.

«أمنت بالله کما هو بأسمائه و صفاته و قبلت جمیع احکامه»

س- هر دو ایمان را ترجمه چیست؟

ج- ایمان مفصل را ترجمه اینست «من ایمان آورده ام بر الله تعالی و بر فرشتگان او و برکتابهای او و بر رسولان او و بروز قیامت و الله تعالی هر چیز را به اندازه خوب و بد اندازه کرده است و ایمان اورده ام برینکه زندگی بعد از مرگ حق است. و ایمان مجمل را ترجمه اینست « ایمان آورده ام بر الله تعالی همانطوریکه او با نامها و اوصاف خود است و تمام احکام او را قبول کرده ام».

س- دین (مذهب) شما عبارت از چیست؟

ج- دین اسلام است.

س- اسلام یعنی چه؟

ج- معنی اسلام اطاعت و فرمانبرداری است و سر اطاعت فروآوردن اسلام است، یعنی سر اطاعت در برابر هر حکم الله تعالی فرو آوردن است و مطابق هر حکم عمل کردن.

این اطاعت را اسلام میگویند.

س: بهترین مذهب در مذاهب کدام است؟

ج : بهترین تمام مذاهب همین دین اسلام است، الله میفرماید که: «إن الدین عند الله الإسلام» (آل عمران-۱۹)

یعنی، نزد الله تعالی فقط دین اسلام قابل قبول است، و میفرماید که «ومن یبتغ غیر الإسلام دیناً فلن یقبل منه» (آل عمران-۸۵)

یعني هرکه غیر ازین دین اسلام، دینی دیگر را تلاش میکند از او هرگز قبول نخواهد شد. پس آشکار است که غیر از اسلام تمام ادیان که بنام دین باشد باطل میباشند.

س: آیا اسلام مذهب جدید است؟

ج : نه هر گز، بلکه دین قدیم است، دین تمام انبیاء است چرا که مقصد و هدف از اسلام تعمیل و تطبیق حکم الله تعالی میباشد و تا قیامت همین دین اسلام خواهد بود.

س: اساس اسلام بر چند چیز بنیانگذاری شده؟

ج : اساس اسلام مبنی بر پنج چیزاست.

س: عبارت از آن پنج چیست؟

ج: همان پنج بنای اسلام این اند.

۱- پذیرفتن اینکه هیچکس و هیچ چیز جز الله تعالی احق ولایق بندگی نیست او واحد ولا شریك است و محمد صلی الله علیه وسلم بندهء راستین و صادق اوست.

۲- نماز خواندن.

۳- زکات دادن.

٤- روزه های ماه رمضان گرفتن.

٥- اگر استطاعت داشته باشند اداء کردن فریضه حج بیت الله شریف.

س: کسی که این پنج بنای اسلام را نپذیرد او راچه میگویند؟

ج: منکر پنج بنای اسلام کافر است.

س: کسیکه جز الله تعالی اشیای دیگر را عبادت کند، هما نند هند و که بت ها را وکسی که قبرها را پرستش کند او را در شریعت چه میگویند؟

ج: چنین مردم که غیر از الله تعالی به دیگران عبادت و پرستش کنند مشرکا نند.

س: آیا به مشرك مغفرت خواهد شد؟

ج: نه هرگز، زیرا الله تعالی میفرماید: «إن الله لا یغفر أن یشرك به ویغفر ما دون ذلك لمن یشاء»

یعني الله تعالی آنکه را با الله تعالی شرك کند هرگز مغفرت نمیکند و غیر از او کسی را که خواسته باشد میبخشاید.

س: کسانیکه سه تا خدا را عقیده دارند، مثل عیسائی، که سه تا خدا را می پذیرند به آنها چه باید گفت؟

ج: آنها نیز مشرك اند.

س: کفر و شرك یعنی چه؟

ج: کفر بمعنی پوشانیده و یا پرده بر چیزی انداختن است ونیز معنی انکار را دارد. و در اسلام کفر آنرا میگویند که بر آنچه ایمان آوردن فرض است از آن انکار کنند، مثلاً از وجود الله تعالی انکار کردن یا انکار از عبادت الله تعالی و از اطاعت رسول الله صلی الله علیه وسلم. و معنی شرك است سهم داشتن و برابري. یعنی آنچه با ذات وصفات الله تعالی مختص است دیگران با آن برابر و سهیم بداند. مثلاً در رزق دادن، فرزند دادن، در علم غیب، رفع کردن مصائب وزحمات، حاضر وناظر بودن در هرجای. مرگ وسوزانیدن وهمچو دیگر این همه صفات مختص به الله رب کس دیگر را در آن سهیم و شریك دانستن شرك است.

س: اناٰنکه فقط کلمه توحید را بزبان بخوانند آما ددر دل بر آن یقین نداشته باشند چه کسان قرار داده میشوند.

ج: چنین مردم منافق اند.

س: منافق را چه نشانیها اند؟

ج: منافق چهار نشانی دارد و آن همین است. دروغ گفتن، عمل کردن خلاف از وعده، خیانت در امانت ودشنام در جنگ و جدل در کسانیکه

همین چهار نشانی دیده میشود منافق خالص و بیشك میباشد. وسزاوار و احق جزای الله تعالی میباشد.

س: احسان عبارت از چیست؟

ج: احسان عبارت از ینست که فقط براي کسب رضا و خوشنودی الله تعالی عبادت شود که در آن خوشنودی و ریا و تظاهر به مردم نباشد. این احسان دارای دو درجه میباشد. اول اینکه الله تعالی را چنان بندگی وعبادت شود که گویا اینکه الله تعالی را عبادت کننده می بیند و این بلند ترین و اعلی ترین درجه احسان است و دوم اینکه الله تعالی را چنان بندگی وعبادت شود که عبادت کننده یقین کامل در دل داشته باشد که الله تعالی حتماً او را می بیند این (اخلاص) برای تمام امور دینی شرط و ضروری است اگر کسی عبادت کند و در آن اخلاص نباشد همان عبادت نا مکمل میباشد و هیچ ثواب از طرف الله تعالی در عوض همچو عبادت داده نمیشود و کسانیکه براي ریاکاری و تظاهر یا بغرض خوش ساختن کسی عبادت کند آن ریا و تظاهر است.

س: ملائك و فرشته ها چه کسانی اند و چه کار میکنند؟

ج: فرشتگان بندگان نیك الله تعالی اند وآنها را الله تعالی از نور آفریده است، ایشان از نظر ما غائب اند اما گاهي به رسولان و آنبیاء الله تعالی ظاهر می شود. آنها نمیخورند ونمی آشامند، نه مرد اند ونه زن. نافرمانی و گناه و خلاف حکم الله تعالی نمیکنند کارهائکه الله تعالی به آنها سپرده است در آن مصروف میباشند آنها دارای دو دو، سه سه و چهار چهار تا بازو و یا بال میباشند.

س: فرشتگان را تعداد تا چند است؟

ج: آنقدر بسیار و بی عدد وبی شمار آند که آمار انها جز الله تعالی به کسی معلوم نیست اینقدر معلوم است که تعداد آنها بسیار زیاد است این چهار فرشته از جمله ایشان بسیار شهرت دارند (۱) حضرت جبریل علیه السلام که احکام الله تعالی را به انبیاء علیهم السلام میاورد.

(۲) حضرت اسرافیل علیه السلام.

(۳) حضرت عزرائیل علیه السلام که مطابق حکم الله تعالی جان مردم را قبض میکند.

(٤) حضرت میکائیل علیه السلام.

س: آیا حضرت جبریل علیه السلام که احکم الله تعالی را به انبیاء علیهم السلام می آوردند نزد پیغمبر ما حضرت محمد صلی الله علیه وسلم نیز حکم الله تعالی میآورد؟

ج: بلی! او احکام الله تعالی نزد پیغمبر ما حضرت محمد صلی الله علیه وسلم نیز میآورد.

س: حکمی که مي آورد آنرا چه میگویند؟

ج: آن را «وحي» یا «کلام الهي» میگویند.

س: آیا قرآن مجید را او آورده است؟

ج: بلی! قرآن مجید را نیز او (حضرت جبریل علیه السلام) آورده حضرت جبریل علیه السلا قرآن را از الله تعالی می شنید و به حضرت محمد صلی الله علیه والسلام میخواند و آنحضرت آنرا در حافظه مبارك شان در می آوردند و حفظ میکردند.

س: تمام قرآن مجید یکبار نازل شده؟

ج: نه، تمام قرآن مجید در مدت بیست وسه سال مطابق ضرورت نازل شده است.

س: نزول قرآن مجید برای بار اول در کجا آغاز یافت؟

ج: کوهی بنام «حراء» در مکه معظمه واقع است و در آن غاری بود رسول الله صلی الله علیه وسلم برای عبادت وریاضت به آن غار تشریف میبردند و مسلسل تا چند روز در آن غار به عبادت و ریاضت‌ پرداختند.

چون سامان خوراکه خاتمه می یافت به خانه عودت میفرمودند وسامان خوراکه و آب با خود میبردند و با تنهایی در آن غار به عبادت می پرداختند نزول قرآن مجید بار اول در همین غار شروع شد.

س: نزول قرآن مجید چطور آغاز یافت؟

ج: رسول الله صلی الله علیه وسلم در همین غار «حراء» تشریف داشتند که حضرت جبریل علیه السلام به حضور ایشان ظاهر گردیده فرمود. « اي محمد صلی الله علیه وسلم » بخوان!حضرت محمد رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمودند «ما أنا بقاري» «من که خوانا نیستم» بالآخره حضرت جبرئیل علیه السلام این چند آیت اول سورة «علق» را خوانده شنوانیده «إقرأ باسم ربك الذي خلق* خلق الإنسان من علق* إقرأ و ربك الأكرم * الذي علم بالقلم * علم الإنسان ما لم يعلم* (العلق)

رسول الله صلی الله علیه وسلم این آیات را از او خوانده حفظ کردند پس اولین آیات قرآن مجید همین اند که نازل شدند.

س: آیا غیر از قرآن مجید کتابهای دیگری نیز از الله تعالی هستند؟

ج: بلی، الله تعالی را علاوه از ین کتابهای دیگر نیز هستند، از جمله این سه کتاب بسیار مشهور میباشند. تورات- انجیل-زبور. تورات بر حضرت موسی علیه السلام، زبور بر حضرت داؤد علیه السلام و انجیل بر حضرت عیسی علیه السلام نازل شده و علاوه ازین کتابهای دیگر بنام صحائف بر سائر انبیاء علیهم السلام نیز نازل شده اند.

س: اولین نبي علیه السلام در دنیا کدام نبي مبعوث گردیده؟

ج: اولین نبي در دنیا حضرت آدم علیه السلام مبعوث گردیده اند.

س: حضرت آدم علیه السلام چه کسی بود و چه وقت بدنیا آمده بود؟

ج:حضرت آدم علیه السلام پیغمبر الله تعالی و بنده نیك او بود و پیشتر از همه بدنیا آمده بود او پدر تمام انسانها است ما همه اولاد اویيم. الله تعالی نامهای تمام اشیاء را به وي نشان داده بود وبه تمام فرشته ها امر فرمود که به او سجده احترام کنند و همه فرشتگان به حضرت آدم علیه السلام سجده احترام بجا آوردند.

س: آخرین نبی چه کسی است؟

ج: آخرین آنبیاء وخاتم النبین پیغمبرما حضرت محمد صلی الله علیه وسلم است. کسی که بعد از او ادعای نبوت بکند کاذب، دروغگو و دجال است.

س: چند تا پیغمبر و رسول مبعوث شده اند؟

ج: بسیار پیغمبر و رسولان فرستاده شده اند، تعداد امح انها جز الله تعالی کسی دیگر نمی داند. بر همه ما فرض است که بر آنها ایمان اجمالی داشته باشیم. یعنی بدانیم که هر چند پیغمبرها و رسولان که از طرف الله تعالی فرستاده شده همه راستین اند وما برانها يقين و ایمان کامل داریم.

س: این چگونه معلوم است که آنها نبی یا رسول اند شناخت و معرفت آنها چیست؟

ج: تمام آنها خوب و نیك بودند، هر گز دروغ نگفته بودند و نه گناه میکردند. فرشته الله تعالی نزد ایشان می آمد و بحکم و امرالله تعالی مطالبی رابآنها نشان میدادند که غیر از انبیاء و رسولان کسی دیگر نمی توانست نشان میداد. آنرا معجزه میگویند و تشریح این معجزه در قسمتهای آینده خواهید خواند.

س: ولی چه کسی است؟

ج: هر مسلمان موحد که تابع تمام احکام الله تعالی ومطیع و پیرو حضرت رسول الله صلی الله علیه وسلم باشد و بسیار عبادت و ریاضت کند و از هر گونه گناهان پرهیز کند و محبت الله تعالی و رسول الله صلی الله علیه وسلم او را برتمام لذایذ و مزایای دنیا ترجیح بدهد همانکس محبوب الله تعالی وولي اوست.

س: آیا ولي میتواند نبي باشد؟

ج: نه، نبی نمیتواند باشد بلکه تابع و پیرو صادق نبی میباشد.

س: بعضی از مردم نماز نمیخواند روزه نمیگیرند بلکه تمام کارهای ایشان خلاف شرع شریعت میباشند، مثلاً ریش میتراشند، شراب میخورند، چرس میکشند، اما برخی از مردم آنگونه اشخاص را ولي میدانند، آیا چنین مردم را ولی باید دانست یا نه ؟

ج: کسی که پابند شریعت نباشد گمراه است و نمیتواند ولي باشد. و آنکسي که چنین یك شخص را ولی بداند او هم گمراه میگردد.

س: آیا رسول، نبي یا ولي میتواند در کار خانه قدرت الله اختیاری داشته باشد؟

ج: این همه بندگان نیك الله تعالی اند و بدون حکم الله تعالی نمیتوانند هیچ کار بکنند و نمیتوانند در کار خانه قدرت و کائنات الله تعالی اختیار داشته باشند. تمام انبیاء، رسولان و اولیاء در مقابل الله تعالی عاجز میباشند.

س: صحابي چه معنی دارد؟

ج: صحابي همان بنده نیکو است که بر حضرت رسول صلی الله علیه وسلم ایمان آورده و در حالت ایمان آنحضرت را دیده و در حالت ایمان از دنیا رحلت فرموده.

س: آیا صحابي نیز میتواند ولي باشد؟

ج: بلي، تمام صحابه کرام ولي الله بودند.

س: آیا صحابي يي یا ولي یی با نبي برابر میتواند باشد؟

ج: نه هر گز نه، صحابي یا ولی را هر قدر که درجه عالی باشد نمیتواند با نبی یا رسول برابر باشد.

س: ولی ییکه صحابي نباشد میتواند با مرتبه صحابي برابر و مساوی باشد یا میتواند در مرتبه بالا تر وعالی تر از صحابي باشد؟

ج: فضلیت صحابي بر ولی ییکه غیر صحابي باشد بسیار زیاد میباشد و ازینجاست که ولی غیر صحابي نمیتواند برابر با صحابي باشد و نه از وی بالا تر در درجه ومرتبه میتواناشد.

س: کسانیکه به اصحاب کرام بدگویند ایشان را حال چیست؟

ج: آنانکه بر اصحاب کرام بد گویند، گمراه و بی راه شده اند. ما زیر احسان بزرگ صحابه کرام قرار داریم رضی الله عنهم اجمعین. بوسیله ایشان دین وقرآن بما رسید ونیز حدیث رسول الله صلی الله علیه وسلم را همین صحابه کرام تا ما رسانیده اند. آنها را تکریم و عزت بکنید و چون نام ایشان بزبان اورده شود فوراً بگویید رضي الله عنهم.

س: قیامت یا روز رستاخیز چیست؟

ج: قیامت یا روز رستاخیز روزی است که حضرت اسرافیل علیه السلام شیپور (صور) بدمد وبسبب آن کار خانه این تمام کائنات و جهان برهم خواهند خورد. کوهها خواهند شکست بمثابه گرد خواهد پرید ستاره ها سیارها پائین خواهند افتاد، آسمان پاره پاره خواهد شد. تمام انسانها و جاندارها خواهند مرد وجز الله تعالی هیچ چیز باقی نخواهد ماند. چند روز بعد بادمیدن شیپور (صور) دیگر تمام مردم بار دیگر زنده خواهند شد و در یك میدان که میدان حشر است گرد اورده خواهند گردید. در این میدان

محاسبه و محاکمه بعمل می آید ونیکی ها و بدی ها وزن میگردد. کسی را که نیکي ها گران و وزن دار باشند داخل بهشت خواهد شد وکسی را که نیکی ها کم باشد و یا نیکو ئی ها نداشته باشد داخل دوزخ خواهد شد.

س: بهشت یا جنت چیست؟

ج: بهشت یا جنت باغ بسیار پر رونق ارژنگ و قشنگ است که دارای قصرهای عالی سیم وزر یعنی نقره وطلا ساخته شده میباشند و زیر آن محلات و قصرها انهار بسیارشفاف جریان دارد. آنجا تمام راحتها و آرام و آسودگیها مهیا اند و اشیای گوناگون خوردن و اشامیدن وجود دارند. کسیکه در آن در آید هیچ زحمت نمی بیند و مرگ ومریضي نخواهد داشت وبرای ابد و همیشه در آن خواهد بود.

س: دوزخ یا جهنم چیست؟

ج: دوزخ یا جهنم جای عذاب است که پراز اتش است و آن آتش هفتاد مرتبه از آتش دنیا گرمتر وسوزنده است. همچنان برای تعذیب دوزخیان آب جوش است، تالاب های پر از زرد آب مترشح از زخمها و خون هستند که دوزخیان آنرا از فرط تشنگی در عوض آب خواهند نوشید. آنانکه نافرمان و باغی از الله تعالی باشند در آن آتش خواهند سوخت و به همان آب گرم جوشنده تعذیب میشوند و ایشان را مار وکژدم میخورند و نیش میزنند و علاوه ازین مبتلا به عذابهای گوناگون خواهند بود.

س: تقدیر چیست؟

ج: تقدیر بمعنی اندازه کردن است، یعنی برای هر نیکی وبدی وبرای هر چیز نیك و بد اندازه معینی در علم ازلي و ابدی الله تعالی مقرر و تعیین است که در فلان وقت فلان کار میشود، فلان شخص نیکي خواهد کرد یابدی خواهد کرد. هیچ چیز از علم الله تعالی بیرون نیست هر چه درین جهان و کائنات شده و میشود و خواهد شد همه در علم الله تعالی هست و همه در علم الله تعالی اندازه و تقدیر شده است.

عبادت:

س:عبادت یعنی چه؟

ج: عبادت، بندگی و پرستش است و در اصطلاح اسلام به مفهوم و معنی تطبیق و تعمیل احکام الله تعالی است که عبارتست از نماز، روزه، حج بیت الله. زکات دادن و علاوه ازین مطالب دیگری اند که در صفحات آینده تشریح میگردد.

نماز:

س: نماز چیست؟

ج: طریقی از عبادت و بندگی کردن الله تعالی که طریق بخصوص است والله تعالی در قرآن مجید و بوسیله حضرت رسول الله صلی الله علیه وسلم در احادیث نبوی صلواة الله علی صاحبه به مسلمانها هدایت فرموده و توضیح داده است. وشرائط بسیاری برای آداي آن هستند.

س: شرایط نماز چند است، چه ها میباشند وتعریف آن چیست؟

ج: نماز را هفت (۷) شرط میباشد که بغیر از آن نماز نمیشود. و آن این است (۱) پاکی و پاکزگی تمام بدن انسان.

۲- پاکی لباس ۳- پاکی جای ٤-سترعورت ٥- داخل شدن وقت نماز ٦- روی به قبله بودن حتی الإمکان ۷-نیت کردن نماز.

س: مقصد از پاکی بدن چیست؟

ج: مقصد از پاکی بدن اینست که هیچگونه پلیدی و کندگی ظاهر و پنهان بر بدن انسان نباشد.

س: مراد از ناپاکي یا پلیدی ظاهر وپنهان چیست؟

ج: پیلدی اشکار یا ظاهری آنست که به چشم دیده میشود مثلاً ادرار، مواد غائطه، خون و همانند آن که آنرا نجاست حقیقی نیز میگویند و ناپاکی یا پلیدی و نجاست پنهان

اینست که دیده نشود اما پلیدی آن از روی شریعت ثابت باشد مثلاً حدث یا بی وضو شدن و جنابت یعنی ضرورت شدن به غسل که پلیدی از آن به نظر نمیرسد اما شریعت آن را نا پاکی قرار میدهد، این پلیدی پنهان را نجاست حکمیه میگوید و براي نماز ضروری است که بدن انسان ازین هر دو نجاست پاك باشد.

س: نا پاكي پنهاني یا نجاست حکمیه را چند قسم است؟

ج: آن دارای دو قسم است یکی پلیدی کوچك یعنی بی وضو شدن که آنرا حدث اصغر هم می نامند و دوم آن نجاست بزرگ یعني حدث اکبر است که آن بی غسل شدن و ضرورت به غسل است.

س: طریق طهارت بدن از پلیدی کوچك چطور است؟

ج: با ساختن وضو بدن از همین نجاست پاك میشود.

وضو:

س: وضو یعنی چه وطریق وضو کردنچیست؟

ج: وقتی که اراده برای ادای نماز کنید اول مسواك کنید بعد از آن بسم الله بخوانید و هر دو دست را تابند دست سه مرتبه بشویید، سپس سه مرتبه دهن بشویید، بعد از آن سه بار در بینی آب انداخته بشویید و صاف کنید، بعد از آن صورت (چهره) را از پیوند موي سر تا زنخدان و تا نرمی های هر دو گوش سه مرتبه بشویید اگر ریش باشد در آن خلال بکنید. سپس هر دو دست را از پنجه دست تا آرنج که ارنج نیز شامل انست سه مرتبه بشویید اگر انگشتر بر آنکشت داشته باشید آنرا بشورانید تا زیر آن آب رفته شسته شود. سپس به تمام سر از پیوند موی تا عقب سر با هر دو دست مسح کنید درین وقت هر دو دست را با آب تر کرده پنجه هاي پست بر پیشانی نهاده کف و انگشتهای دستها را بر سر تاعقب سر کش کنید و سپس آنرا بسوی پیشانی کش کرده بیاورید تا بر تمام سر مسح شود سپس هر دو گوش را چنان مسح کنید که هر دو انگشت شهادت را درسوراخ های هر دو گوش انداخته انگشت های بزرگ هر دو دست را در عقب گوشها بمالید تا عقب گوشها مسح شود. سپس اول پای راست و باز پای چپ را باشتالنگ پای بشویید و در میان انگشتان پای خلال کنید تا که جای در آن خشك نمانده باشد.

شستن این اعضاء را با یك چنین طریق وضو میگوید چون از وضوء فارغ شدید، این دعاء را بخوانید.

«اشهد آن لا إله إلا الله وحده لا شريك له و أشهد أن محمداً عبده و رسوله. أللهم اجعلني من التوابين واجعلني من المتطهرين».

ترجمه: من گواهي میدهم که غیر از الله هیچکس احق بندگی و عبادت نیست. الله واحد یکتا است شریك ندارد و گواهي میدهم از ینکه محمد صلی الله علیه وسلم بنده و رسول اوست. اي الله مرا با توبه کننده گان و پاکان شامل بفرما.

س: وضوء چند فرض دارد؟

ج: وضو را شش فرض است (۱) نیت کردن وضوء (۲) تمام چهره را شستن از پیشانی تا زیر زنخدان (زناق) (۳) شستن هر دو دست از پنجه تا آرنجها و حد اقل یکبار شستن فرض است که در آن برابر یك سر موی جای خشك نمانده باشد (٤) مسح کردن تمام سر (٥) شستن هر دو پا با شتالنگ ها (٦)ترتیب وضوء کردن یعنی اول چهره باز دست ها تا آر نجها سپس مسح سر وسپس شستن پای.

(ادامه‌دارد)

ښاغلی سحیقی وویل:

د پاکستان کورنی مشکلات ددی سبب شول چه د مهاجرینو د بیرته ستنیدو په لار کی موافقه له څه وخت ځنډیدو وروسته لاسلیك شی

د «دعوت» د مجلی خبریال د افغانستان د مهاجرینو د بیرته ستنیدو د وزارت له لومړی معین ښاغلی میراجان «سحیقی» سره مرکه کړی چه دادی د گرانو لوستونکو د خبرتیا لپاره خپریږی.

پوښتنه: ښاغلی «سحیقی» صاحب ! لطفاً که د یو عالم او لیکوال په حیث د هجرت د تاریخچی او حیثیت او هم که ایران ته ستاسو د سفر په اړوند مفصله رڼا واچوئ ډیره مهربانی به مووی.

ځواب : مخکی تر دی چه ستاسو سوال ته ځواب ووایم لازمه گنم چه څو خبری د سریزی او مقدمی په توگه بیان کړم. تاسو ته ځرگنده ده چه هجرت د آدم علیه السلام له زمانی څخه شروع شوی بیا به دقیامت تر ورځی پوری دوام لری د تاریخ په اوږدو کی دځمکو، تخنیکی او مالی شتو ځرنگوالی، د بشری ټولنی تر منځ دشخړو ذریعه گرځیدلی او د ظالم او مظلوم موجودیت ئی را منځ ته کړی چه اکثراً د ځان مال او ناموس د ساتلو له ویری خپل اصلی ټاټوبی پریږدی او په هجرت مجبور کیږی.

په اسلامی نړی کی د ابراهیم خلیل الله علیه السلام د ژوندانهٔ بهیر د هجرت اصلی بنیاد تشکیلوی، بیا د رسول اکرم صلی الله علیه وسلم د اصحاب کرام رضی الله عنهم هجرت حبشی او بیا مدینی منوری ته د حضرت محمد ﷺ هجرت دی چه اسلامی تاریخ تری شروع شوی دی.په هر صورت په لویدیزه نړی کی د انسانس او د انگیزیسیون د عقیدو د پلټنی له وخته مهاجرتونه پیل شوی چه تر اوسه پوری د جنگونو او نورو طبیعی واقعاتو له کبله دوام لری.

د نړیوال لمړی خونړی جنگ نه وروسته یو شمیر خلك او هیوادونه پدی سوچ کی شول چه د بشر د حقوقو د رعایت کولو او داقتصادی پریشانی وضعی د کنترول لپاره باید یوه مقتدره ټولنه جوړه شی تر څو د هجرتونو مخنیوی وکړی او یا اقلاً د هجرت په وخت کی له بی وزلو سره څه ناڅه مادی مرستی وشی، خصوصاً خپل اصلی ټاټوبی ته دبیا ستنیدلو له امله څه انسانی شرایط برابر کړی نو د ملگرو ملتو په اداره کی ئی یوه څانگه د مهاجرینو د معاونت او بیا ستنیدو لپاره UNHCR په نامهٔ

جوړه کړه. د ملګرو ملتونو ټولنې د ۱۹۵۰م کال د ډسامبر په ۱٤ نېټه پرېکړه وکړه چه دغه اداره دې خپل اصلي کړنلاره جوړه کړي، پدې کې د نړۍ دګوټ ګوټ نه یو شمیر پوهان په ۱۹۵۱م کال په جنیوا کې سره یو ځای او ۲۳ ورځې ئې کنفرانسونه او خبرې وکړې، ددغو کنفرانسونو نتیجې په ۱۹۵٤م کال کې قانوني قدرت پیدا کړ، که څه هم د ۱۹٦۷م کال په کنوانسیون کې څه تغیرات پېښ شوي چه دلته ئې د جزئیاتو د ذکر ګنجایش نشته.

اوس په ټوله نړۍ کې دمهاجرینو لپاره د ۱۹۵۱م او ۱۹٦۷م کلو پروټوکولونه تر اجرا لاندې نیولې کېږي دغه دوه قانوني پرېکړې د هغو کسانو لپاره ګټوري دي چه د ۱۹۲٦م کال را پدې خوا ئې واقعات پېښ شوي او تعریف ئې په کنوانسیونونوکې شوی او هغه هیوادونه چه مهاجر پکې میشته دي مجبور دي د هغو پرېکړو مراعات وکړي، کله چه د افغانستان حکومت د روسي کمونستانو په مرسته د هغوی ګوډاګیانو ته په لاس کښېنود نو هغوی دخپلې ناولې کمونیستي استالیني فلسفې له مخې په زرګونه بې ګناه علماء، روحانیون، علمي او فني شخصیتونه، ملکي او عسکري صاحب منصبان، محلصین او زده کوونکي، محلي متنفذین، سرمایه لرونکي تاجران او حتی بزګران او مالداران ئې خپلو کې غورځول او وژل ئې پیل کړه. د افغانستان په دین مین اولس دخپلې پاکې عقیدې د ځان، مال، ناموس او دین د خوندي ساتلو له کبله د لوی الله جل جلاله د صریح حکم په اساس چې فرمائي «والذین أمنوا و هاجروا و جاهدوا في سبیل الله.....الخ» د عقیدې او ایمان په رڼا کې دخپل پاك پیغمبر ﷺ په تګ لارې لمړی هجرت او بیا جهاد ته چمتو شو، پدې سلسله کې که یوازې د الله جل جلاله حکمونه او د رسول الله ﷺ احادیث ذکر کړم نو ډیر وخت نیسي نو پدغه یوه لاندنۍ آیت اکتفاء کوم لکه چه فرمائي: «ومن یهاجر في سبیل الله ...الخ ».: (سورة النساء۱۰۰)

لنډه دا چه د ملګرو ملتونو نمائندګۍ د خپلو مقرراتو په بنا په پاکستان، ایران او نورو هیوادو کې د افغاني مهاجرینو سره تر یوې اندازې پورې مرسته کړې چه تر اوسه پورې هم دوام لري. مهمه خبره داده کله چه روسان له افغانستان څخه په وتلو مجبوره شو او د افغانستان د حکومت واګې د مجاهدینو لاس ته ورغلې نو د ملګرو ملتو ټولنې د خپلو قانوني مقرراتو په بنا یوه طرحه د مهاجرینو د ستنیدو په هکله ترتیب او د افغانستان، پاکستان او ایران حکومتونو ته ئې واستوله، هغه طرحه درې واړو حکومتونو ومنله. ددې طرحې پر بنا په تهران کې دغه موافقه د افغانستان، ایران او په ایران کې د ملګرو ملتو تر منځ لاسلیك شوه، ددې موافقتنامې په اساس یو دولس کسیزه هیئت له درېو خواؤ څخه تعین تر څو د مهاجرینو لمړنې مشکلات حل کړي.

لومړنی درې جانبه اجلاس د روان کال د غوائی د میاشتې په ۳۲ نیټه په تهران کې ځما په مشرۍ جوړ شو چه په (۷)مه ماده کې یوه پرېکړه وشوه چه د هغې پرېکړې د اومې مادې په اساس دوهمه درې جانبه جلسه په کابل کې باید جوړه شوې وای نو له بده مرغه د بې امنیتۍ او نورو مشکلاتو له کبله زمونږ په غوښتنه دوهمه جلسه هم د زمرۍدمیاشتې په ۲۵ نیټه په تهران کې دایره شوه او په ۹ مادو کې یوه پرېکړه لیك تائید او تصدیق شو چه مهم ټکې ئې دادي:

۱- ټول هغه مهاجرین چې راجستر شوي او د پېژندګلوۍ کارتونه ولري پخپله خوښه خپل هیواد ته

ستنیږي.

۲- ټول هغه کسان چه راجستر شوي ندي او د پیژندګلوۍ کارتونه نه لري د دریو میاشتو په میعاد کې به د مهاجرینو د نمایندګۍ په تصدیق ایراني مامورین موقت کارتونه ورکوي د کارت د اخیستو له نیټې څخه بیا ۱۳۷۳ کال د غوائي ترمیاشتې به خپل هیواد ته ستنیږي.

۳- مهاجرین خپل ټول کورني متعمل شیان چې تر یو میلیون ریال پورې ارززښت ولري له ځانه سره وړلی شي.

٤- مهاجرین هرڅومره پیسې چې ولري د ریال او بهرنیو اسعارو په شکل وړلی شي.

۵- ټول مروج ښځینه (زنانه) زیورات وړلی شي.

٦- د ټولو مهاجرینو انتقال به د هستوګنې له ځای څخه تر شپږو سرحدي بندرو پورې د ملګرو ملتو په مرسته سرته رسیږي.

۷- په سرحد کې هر نفر مهاجر ته ۲۵ ډالره او پنځوس کیلو غنم د. ملګرو ملتو لخوا ورکول کیږي.

۸- هغه محصلین چه په مختلفو فاکلتو کې زده کړې کوي د ملګرو ملتو لخوا تحصیلي بورسونه ورکول کیږي او د ایران حکومت به د هغوی د کورنۍ لپاره د پاتې کیدو تسهیلات برابروي.

۹- د ملګرو ملتو نمایندګي به د سپین ږیرو، کوچنیانو، معلولینو او بې سرپرسته ښځو لپاره د هوائي لارې ټکټونه برابروي او ایران به د افغانستان د سفارت په پیژندګلوۍ پاڼه له پاسپورټ د وتلو اجازه ورکوي.

۱۰- د ملګرو ملتو نمایندګي به د افغانستان د بیا ودانولو، د کورنو جوړولو، څمکو آبادولو، اوبو تهیه کولو، روغتیائي چارو او مین پاکولو او د فني او تخنیکي کسانو د روزلو لپاره نقدي او مالي مرستې برابروي.

پوښتنه: ویل کیږي چه د افغانستان صدراعظم ښاغلي حکمتیار په پاکستان کې د مهاجرینو د بیرته ستنیدو په باب له پاکستاني مقاماتو سره څه موافقه کړې، که پدې هکله څه ووائي مهرباني به مو وي؟

ځواب: د پاکستان کورني مشکلات ددې سبب شوي چې تر اوسه پورې پدې بریالي نشو چې دری جانبه مافقه لاسلیك شي. پدې نژدې ورځو کې چې صدراعظم ښاغلي حکمتیار پاکستان ته رسمي سفر وکړ د مهاجرینو د ستنیدو وزیر ډاکتر فاروق اعظم هم ورسره ملګری ؤ دا موقع مساعده شوه تر څو د اسد په (۲۷) نیټه دغه موفقه لاسلیك کړي پدې لړ کې به هم دولس کسیزه هیئت له دریو خواؤ څخه تعین شي، تر څو د مهاجرینو د مشکلاتو د لرې کولو لپاره لومړی غونډه په اسلام آباد کې وکړي.

پوښتنه: د افغانستان فعلي شرایط څرنګه ارزیابي کوئ؟

څرنګه چې د افغانستان اکثریت خلك تر اوسه پورې مسلح دي نو ځکه په بې امنیتۍ کې رول لوبولی شي که څه هم داسلام اباد او جلال آباد د موافقې په اساس سیاسي حالات مخ په ښه کیدو ښکاري.

پاتې دې نه وي چې په ایران کې څو نمایندګان تعین شول تر څو چې د علمي، ادبي، هنري او فني ماهرینو احصائیه برابره کړي دغو کسانو ته به د افغانستان په بیا ودانولو کې موقع برابریږي همدغه پروسه په پاکستان کې هم تر غوراو نظر لاندې نیول شوې ده.

(ومن الله التوفیق)

تیر پسی

د دین مفهوم

دریمه برخه

کلیم الله متین

د ژوند په نظام کی دری معنوی عناصر:

دژوند په دی کائناتی نظام کی دری مهم معنوی عناصر ربوبیت، رحمت او عدالت دی. څنګه چه د خلقت دا ستره فابریکه د خپل وجود او بقا لپاره ربوبیت او رحمت ته اړه لری هماغه شان عدالت ته هم اړه او احتیاج لری. دغه دری معنوی عناصر دی چه له هغو څخه د خلقت او پیدایښت ټینګښت او دوام را پیدا کیږی. ربوبیت پالنه کوی، رحمت د ګټو او فیضان رسولو سر چینه ده او له عدالت څخه ښیګړی څرګندیږی او زیانونه او فسادونه له منځه وړی.

دتعمیر او تحسین ټول حقایق څه دی؟

د تعمیر او تحسین ټول واقعیتونه او حقایق په اصل کی دعدالت او توازون نتیجه ده لکه چه مخکی مو د ربوبیت او رحمت په باب خبری وکړی. لږ چه مخ په وړاندی لاړ شو نو څرګندیږی چه د ژوند په دی لویه کار خانه کی چه د جوړښت، ښکلا، ښیګړیو او جمال څخه څه لیدل کیږی هغه د عدل او توازون د حقیقت څرګندوی دی.

عدل یعنی برابری له دغه امله دی چی په معاملاتو او قضایاؤ که فیصلی او حکم کولو ته عدالت او عدل وائی، ځکه چه ددوو ډلو تر منځ یا ددوو تنو تر منځ چه زیاتی یاکمی وی، هغه لری کوی او برابری را پیدا کوی. د تلی تول ته هم معادلت وائی ځکه چه ددواړو خواؤ تول او وزن سره سموی، دغه عدالت چه په شیانو کی منځ ته راشی نو د هغوی په کمیت او کیفیت کی تناسب را پیدا کوی یعنی یوه برخه چه د بلی برخی یا یو شی چه د بل شی د کمیت او کیفیت سره مناسب او موزون وی عدالت بللی کیږی.

اوس ګورو چه د ژوند په دی کار خانه کی چه د جوړښت او ښه توب څومره ښکارندوی دی هغه له دی حقیقت څخه څنګه را پیدا شوی دی.

وجود څه شی دی؟ حکیمان او طبیبان وائی چه د عناصرو د ترکیب اعتدال دی، که چیری پدی اعتدالی حالت کی څه لړزه‌غوندی ګډوډی را پیدا شی نو وجود له منځه وړی او عدم ته ئی رسوی.

جسم څه شی دی؟ د جسمانی موادو یو خاص اعتدالی حالت دی که چیری یو جز پکی غیر معتدل شی نو د جسم ترکیبی جوړښت له منځه ځی.

صحت او روغوالی څه دی؟

د اخلاطو اعتدال دی که چیری د هغه په ټینګښت (قوام) کی ګډوډی او وراني را شی نو صحت له منځ ځی.

حسن او جمال یا ښکلا څه ده؟

د تناسب او اعتدال یو کیفیت دی چه په انسان کی وی نو هغه ښکلی انسان وی چه به نباتاتو کی وی نو ګل ور- څخه را پیدا شی چه په ودانۍ کی وی نو ښکلی ودانۍ وی.

د نغمی خوږوالی (حلاوت) څه دی؟ د سورونو د ترکیب اعتدال او تناسب دی که چیری یو سور هم بی ځایه او بی میله شو نو نغمه بی کیفیته او بی خونده کیږی.

دغه عدل او برابری یا توازون یوازی

په اشیاؤ پوری منحصر نه دی او نه یوازی په اجسامو باندی موقوف او ولاړ دی بلکه د ژوند د کارخانی یا د کائناتو ټول نظام په عدل او توازون باندی ولاړ دی، که چیری دغه حقیقت د یوی لحظی لپاره نه وی نو د نړی ټول نظم به ګډوډ شی، دا څه وجه ده چه د لمریز (شمسی) نظام ټولی کری په خپل خپل ځای معلقی یا ځوړندی دي. په خپلو خپلو دائرو کی حرکت کوی او هیچرته هم انحراف نه کوی. ددی علت هم هغه د عدالت قانون دی چه ټولې کری ئی یو تربل سره تړلی دی، ټولی کری خپله خپله جاذبه لري او د هغوي د مجموعي جذب او انجذاب له توازون څخه یو داسی حالت را پیدا شوی دی چه هره کره په خپل ځای کلکه او معلقه ولاړه ده، که چیری هره یوه کره د عدالت له دغه قانون څخه انحراف وکړی نو له نورو کرو سره به ټکر او تصادم وکړی او لمریز نظام به ګډ وډ شي.

د اعدادو د تناسب ستر تصدیق او صداقت چه د حساب او ریاضي د ټولو حقایقو دارومدار دی، څه شی دی؟ هغه هم د عدل او تعادل حقیقت دی له کومی ورځی څخه دغه حقیقت دبشر ذهن ته ښکاره او څرګند شو نو د علومو ټولی دروازی ئی په مخ خلاصی شوی.

وضع میزان یا دغه توازون ته د قرآن اشاره:

قرآن دغه حقیقت ته ځای په ځای اشاری کړی دی لکه چه د (الرحمن) د سورة په ۷- ۸ آیتونو کی فرمائی: «والسماءَ رفعهاَ ووضعَ المیزانْ ط ألاّ تطغوا في المیزانِ»

یعنی: هغه آسمان پورته کړی دی او د (فلکی یا سماوی اجرامو دقیام او ټینګښت لپاره ئی دعدالت د قانون) میزان (تله) جوړه کړی ده نو مقصد دا چه له میزان څخه تجاوز مه کوئ.

تله یا ترازو او میزان څه د تعادل او توازون قانون دی چه ټول سماویه اجرام یا کري ئی د هغوی په ټاکلو ځایونو باندی درولی دی او هیڅکه داسی نه دی شوي چه د توازون ددغه تلی یو اړخ کوم خوا ته کوږ شی. همدغه شان د فکلی اجرامو دغه ستن ده چه په سورة رعد کی ورته داسی اشاره شوی ده.

«الله الذي رفع السموات بغیر عمدٍ ترونها »الرعد-۲)

الله تعالی هغه دی چه آسمانونه یعني سماوی اجرام یا کری ئی بې ستنو اوچتی درولی او تاسي ئی (دهغه حکمت) وینئ.

دسورة لقمان په (۱۰) ایت کی بیا دي موضوع ته داسي اشاره کړی.

«خلق السموات بغیر عمدٍ ترونها »

یعنی؛ هغه آسمانونه (فلکی اجرام او کری) پیدا کړی او تاسی ئی وینئ چه په ستنو نه دی ولاړی.

نو ددي خبري ویلو ته اړ نه یو چه روایو د عدل او تعادل د حقیقت پوهولو لپاره میزان (تله) ښه ګڼوام پوهونکی تعبیر دي.

همدغه شان دسورة آل عمران په (۱۸) آیت کی: «قائماً بالقسط......» په ارشاد سره ددی حقیقت خواته ګوته نیسی چه یعنی د کائناتو په خلقت کی ټول کار په عدالت ولاړ دی او الله د ژوند د نظم ټینګولو لپاره همدغه عدالت قانون ټاکلی دی.

په عدل او قسط باندی د انساني اعمالو بناء د قرآن په اصطلاح کی نیك عمل دی.

قرآن وائی هر کله چه د عدالت قانون دکائناتو د نظام په هره برخه او او هر ګوټ کي نافذ دی نو څنګه کیدی شی چه د انسان د مفکورو او عملونو لپاره دی اغیزمن نه وی، نو په دی برخه کی هم هغه عمل منلی او د منني وړ دی چه د افراط او تفریط په ځای او دمیل او انحراف په ځای په عدل او انصاف او قسط باندی مبنی او ولاړ دی او الهي وحي یعني قرآن مجید دغه عمل د «عمل صالح» په نوم تعبیر کړی دی. که څوك د تعمیر

او جمال یعني د ودانۍ او ښکلا د سږنو نومونو څخه په مغالطه او اشتباه کی ونه غورزوی او په دی حقیقت پوه شی چه په دی ټولو کی اصل حقیقت یو دی او هغه «عدالت.....» دی نو په دی برخه کي به د ایمان او عمل صالح له اصطلاح څخه هیڅ نه ویریږی او نه به انکار وکړی.

«أفغیر دین الله یبغون و له أسلم من في السموات والأرض طوعاً و کرهاً و إلیه یُرجعون»(آل عمران-۸۳.)

یعنی؛ آیا دا خلك غواړی چه د الله تعالی ټاکلی دین پریږدی او بل کوم دین ولټوي په داسی حال کی چه په ځمکه او آسمانونو کی چه هر څه دی هغه ټول که خوښ دی او که ناخوښ (په طبعی او فطری توګه) د هغه الله د حکم اطاعت کوی (اوټول د هغه په ټاکل شوي قانون باندی روان دی). او بیا به هم ټول د هغه خواته ورګرځی او مراجعه به ورته کوی.

د بد عمل لپاره د قرآن له خوا ټاکلی لغتونه:

قرآن چه د بد عمل د نومونو اخستو لپاره څومره تعبیرونه غوره کړي دی، ټول داسی دی چه که چیری په مفاهیمو او معناؤ ئی غور وشی نو د عدل او توازون په ضد او مخالف به ثابت شي، ګواکی د قرآن په نزد د بد عمل حقیقت بی له دی بل هیڅ نه دی چه له عدل څخه انحراف شوي وی.

مثلاً ظلم، طغیان، اسراف، تبذیر، فساد، اعتداء او عدوان او داسی نور.

د ظلم معنی په عربی ژبه کی داسی شوی ده «وضع الشئ في غیر موضعه» یعنی یو شی چه په کوم ځای کی باید کیښودی شی په هغه ځای کی نه بلکه په بل ځای کی کیښودی شی، یا هغه خبره چه په کوم ځای کي د ویلو حق لری هلته نه او په یو بل ځای کی وویل شی. ځکه نو قرآن «شرک» ظلم عظیم یعنی ستر ظلم بللی دی ځکه چه تر دی زیاته بی ځایه خبره نشته او څرګنده ده چه کوم شی چه پخپل سم ځای او اصلی ځای نه وی یا کومه خبره بی ځایه او بی محله او غیري حقیقی وی هغه له عدالت څخه لری بلل کیږی.

طغیان: طغیان له حده تیریدو ته وائی. دسیند اوبه چه له خپلو پخوانو حدودو او پولو څخه واوړی نو په عربي ژبه کی ورته وائی: «طغی الماء» نو څرګنده ده چه له حده تیری د عدالت ضد او مخالفت دی.

اسراف: له سرف څخه مشتق دی چه یو شی په څومره اندازه باید ولګولی شی او له هغی اندازي څخه چه زیات ولګی اسراف ورته وائی.

تبذیر: د تبذیر معنی د یو شی داسی خرڅ کول او لګولو ته وائی چه چیرته چه ئی خرڅ کول پکار دی هلته خرڅ نه شی او د اسراف او تبذیر تر منځ د مقدار او محل فرق دی.

په خوراك کی خرڅ کول د لګولو صحیح محل دی، خو له اړتیا نه چی زیات خرڅ وشی نو اسراف دی. سیند ته د پیسو غورزول په صحیح محل کی خرڅ نه دی، که چیری څوك د سیند اوبو ته پیسی ورواچوی نو دغه عمل تبذیر دی او دواړه صورتونه د عدالت او عدل څخه مخالفت دی ځکه چه د عدل حقیقت په مقدار او محل دواړو کي تناسب غواړی.

فساد: د فساد معني په عربی ژبه کی ده چه «خروج الشئ عن الاعتدال» یعنی؛ له اعتدال څخه د یو شی د باندی وتل.

اعتداء او عدوان: دواړه توری له یوی مادی څخه مشتق دی او ددواړو معنی له حده تیریدل دی.

(دوام لري)

ته به کله راشې

ستړګې مو ستا لاره ته نيولي ته به کله راشي!
ظلمونو ډېر يو دردولی ته به کله راشي!

چه مو زخمونه را پيوند کړی نور له درده خلاص شو
ډيـرو پرې مـالګې دوړولی ته به کلـه راشي!

چه يتيمانو، کونډو رنډو ته اسره پيدا شي
ډيرو په جبر ژړولی ته به کله راشي!

دی ژوبل ژوبل ورشوګانو ته شينکی بهاره!
د اور لمبـو چه دی سيـزلی ته به کله راشي

د يوې مړی له پاره چاودې پښې تناکې ګرځي
ډير د نيستی سيلاب ځپلی ته به کله راشي!

هيڅ د سکون درك يې نه لګی چه چيری لاړ شي
په آرمـان مړهٔ شـو د خپـل کلی ته به کله راشي!

له مجبوريته مونږ د نهٔ انسان منت تيروو
دې متازو يو ځـورولی ته به کلـه راشي!

د«افسوس» دغه سوال قبول کړه په منت او زارئ
بس دی نور ډير يو کړيدلی ته به کله راشي!

ظالمه ستا له لاسه

پادشاه وزیر «ارماني»

ظالمه ستا له لاسه نن ټول مظلومان ژاړی
میندی ئی مړی شوی ترینه پاتی ماشومان ژاړی

شین پسرلی پری ستا دلاسه په خزان بدل شو
پدی زیاتیٔ باندی په چغو بلبلان ژاړی

مور دې د لور ځوی دې د پلاره په ژوندون جلا کړ
پدی بیلتون باندی د هر ملك مسلمان ژاړی

لږ شان تپوس که د ماشوم غوندی بچی نه وکړی
هغه نن هم په حال د پاك افغانستان ژاړی

چی یی له کوره بهر چا پلو لیدلی نه ؤ
اوس هغه خویندې پردی در کی په ارمان ژاړی

هغه سپین ږیری چه په خولو یی خنداگانی وی تل
نن یي له سترگو نه ځی اوښکي په گریوان ژاړی

سهر ماسام چه یی نظر به لگیدو په گلو
خاوری په سر او در په در هغه مالیان ژاړی

«ارمانی» دی غم ته هیڅوك زړهٔ ټینگولی نشی
قلم په لاس ورته نن واړه شاعران ژاړی

ددين دشمعي پروانه

(دشهيد شيخ جميل الرحمن رحمه الله مرثيه)

«شفاء الملك شفاء»

دا شهادت دی مبارك شه نيك كردار شهيده
ستا دی پاك روح ته مي سلام دی په بار بار شهيده

پاكه جذبه دی د جهاد تل په خاطر لرله
ډير مقدس ؤ په دی لار كی ستا رفتار شهيده

ستا قربانی به افغانان هيڅكله هيره نه كړی
تا د اســـلام جهاد ته قام كـړلو تيار شهيده

وی موحد او د توحيد دی مدرسی جوړی كړی
وی په جهـان كـی د توحيـد علمبـردار شهيـده

د مال او سـر قربانی وركـړه تا ددين لپاره
ددين د شمعی پروانه ددين غمخوار شهيده

ستا سره غم د شريعت او د قرآن سنت ؤ
ته د الله رسول ددين د باغ ماليار شهيده

ستا شهادت به د الله نه په تقـدير كی ليك ؤ
مباركي مو درله دركړه په مزار شهيده

ستا د تقوىٰ او دين داری چيرته مثال نه مومم
لوي مجـاهـد او مبلغ په خوی خاكسار شهيـده

ته د «شفاء» د زړهٔ نه هيچيری بهر به نشی
د اســــلامي لښكرو وی سپاه سالار شيهده

د پیغمبر ﷺ لار

قرآن — سنت

درسول الله ﷺ دعوت الی الله:

«قل هذه سبیلي أدعوا إلی الله»، (ورته ووایه چه زما لاره داده چه زه د الله طرف ته بلنه کوم.) رسول الله ﷺ لوړي پخپله په قرآني هداياتو باندي عمل وکړ او بیا یي خپلي لاري ته په دغو هداياتو باندي د عمل کولو بلنه ورکړه، یعني رسول الله ﷺ خپل امت ته ددي خبري بلنه ورکړه او دعوت ئي کړل چه زما لاره فقط او یوازي همدغه قرآني هدايات او لار ښوونې دي او بس. په بل عبارت داسي چه لوړي ئي په قرآن پخپله عمل وکړ او بیا ئي د قرآن په لاره د تګ دعوت ورکړ او انسانیت ته ئي غږ ورکړ چه راځئ داده زما لاره، که زما د دعوت لاره نیسئ نو په ما پسي په دي لاره راځئ چه زه پري ستاسي په وړاندي روان یم. نو څکه څرګنده خبره داده چه رسول الله ﷺ تر هر چا لوړي موحد، لوړي مؤمن او تر ټولو لوړي مسلمان دي. لکه چه الله تعالی فرمائي:

«قل إن صلوتي و نسكي و محياي و مماتي لله رب العلمين* لاشريك له وبذالك امرت و انا اول المسلمين» ترجمه: ورته ووایه چه بیشکه زما لمونځ او عبادتونه زما ژوند او زما مرګ د الله رب العلمین دپاره دی د هغه هیڅوك شریك نشته او ماته د همدغه (عقیدی لرلو) حکم راکړی شوی دی. او زه په مسلمانانو کی تر ټولو لوړی مسلمان یم.

ددی آیت نه څرګنده شوه چه رسول الله ﷺ تر ټولو لوړی مسلمان دی. تر ټولو د الله تعالی لوړنی فرمان بردار دی. څنګه چه هغه د الله تعالی د حکمونو لوړنی منونکی او فرمانبردار دی نو تر ټولو لوړنی عامل قرآن دی. د حضرت رسول الله ﷺ عمل لوړی او دعوت ئی ورپسی دی.

هغوی اول لاره جوړه کړه او بیا ئی په هغه لاره د تګ دعوت ورکړ نو څکه حضرت پیغمبر ﷺ دخپل امت یوازنی پیشوا او رهبر دی. یوازنی لارښود دی. او واحد یکی یوازنی امام دی. د الله تعالی د هدایت سره سم د آخرت د لاری د ښوونی او ټاکنی حقدار یوازی هم هغه دی، ټول صحابه رضی الله عنهم، تابعین، تبع تابعین، محدثین، فقهاء، اولیاءُ الله او صالحین رحمة الله علیهم اجمعین به د حضرت رسول الله ﷺ په لاره بی له خپلی مداخلی روان دی او الله تعالی ته به نژدی کیږی.

په دغه لاره چه زمونږ حضرت پیغمبر ﷺ ښودلې ده باید هر مسلمان لاړشی څکه چه د نجات شرط فقط په همدغه لاره تګ دی. د پیغمبر په لاره تګ د امت د نجات او فلاح متضمن دی.

د پیغمبر لاره کومه لاره ده؟

د پیغمبر ﷺ قول، فعل، سنت، حدیث، سیرت، اسوه اخلاق او کردار د پیغمبر لاره یا سبیل الرسول ده. څه

چه هغوی فرمایلی او د خپل ژوند په مبارکه موده کی ئی ښودلی دی دغه ده د پیغمبر ﷺ لار. د سنت د ډیوی رڼا، د حدیثو چراغونه، د سیرت قندیلونه، د اسوه حسنه فانوسونه، د عاداتو، اخلاقو او کردار رڼاگانی تولی انسان ته د جنت او الله تعالی د رضا لاره روښانه کوی او انسان ته په گوته کوی او وربنایی ورته چه د انسانیت لاربنود د بشریت رهبر او هادی عالم وعالمین ﷺ په دی لاره تگ فرمایلی دی. د هغوی د مرور حیات انوار د الله تعالی د رضا او جنت او نعمتونو بهارونه‌دی.

د دعوت منلو خوږه میوه (نتیجه یا ثمره):

وعن جابر قال جاءت ملئكة إلى النبي ﷺ وهو نائم فقالوا إن لصاحبكم هذا مثلاً فاضربوا له مثلا قال بعضهم انه نائم و قال بعضهم إن العين نائمة والقلب يقظان فقالوا مثله كمثل رجل بنى داراً وجعل فيها مادبة وبعث داعياً فمن اجاب الداعى دخل الدار واكل من المادبة من لم يجب الداعي لم يدخل الدار ولم يأكل من المادبة فقالوا اولو هاله يفقهها قال بعضهم انه نائم وقال بعضهم ان العين نائمة والقلب يقظان فقالوا الدارالجنة والداعي محمد ﷺ فمن أطاع محمداً ﷺ فقد أطاع الله ومن عصى محمداً ﷺ فقد عصى الله و محمد ﷺ فريق بين الناس. (بخاری شریف.)

ترجمه: «د حضرت جابر رضی الله عنه نه روایت دی هغه وویل چه رسول الله ﷺ بیده ؤه (دخوب به حالت کی ؤه) فرشتی ورته ورغلی، هغو (فریشتو) په خپلو منځو کی سره وویل چه ستاسی ددی صاحب (حضرت محمد ﷺ) دپاره مثل یو مثال دی هغه ورته بیان کړئ. چه خپل امت ته ئی بیان کړی.

ځینو فرشتو وویل، حضور ﷺ د خوب په حال کی دی (نو بیانول ئی څه فایده) ځینو نورو وویل چه دهغه سترگی د خوب په حال کی وی خو زړهٔ ئی ویښ وی (نو ځکه باید مثال بیان شی) نو فریښتو وویل دذه مثال د هغه شخص دی چه کور جوړ کړی او بیا په هغه کور کی د ډوډی (غذا) د خوراك بلنه ورکړی او استازی ولیږی چه خلکو ته بلنه واوروی نو که چا بلنه قبوله کړه دغه کور ته به ورشی او ډوډی به وخوری او چا چه د هغه د استازی بلنه ونه منله او قبوله ئی نه کړه نو دغه کور ته به ورداخل نه شی او له ډوډی‌خوراك نه به هم محروم شی بیا دغو فرښتو وویل اوس ورته ددی مثال مقصد بیان کړئ چه حضرت رسول الله ﷺ ئی په مقصد او شرح پوره وپوهیږی. نو ځینو فرښتو بیا وویل چه هغه د خوب په حال کی دی خو هغو ځینو نورو بیا وویل چه دده سترگی د خوب په حال کی دی خو زړهٔ ئی ویښ دی (نو تشریح ورته باید بیان کړی شی) نو فریښتو وویل ددی مثال مقصد دادی چه د کور نه مطلب جنت دی او د استازی نه مقصد محمد ﷺ. هر څوك چه دده دعوت قبول کړی او فرمانبرداری ئی وکړی نو هغه د الله تعالی فرمانبرداری وکړه. هر څوك چه دده دعوت قبول نه کړی او نافرمانی ئی وکړی نو هغه د الله تعالی نافرمانی وکړه او محمد ﷺ د حق او باطل په مینځ کی فرق کوونکی دی چه د خلکو په منځ کی د حق او باطل جدائی راولی».

د حدیث تشریح: د حدیث مقصد دادی چه الله تعالی یو کور یعنی جنتونه تیارکړل او په هغو کی ئی هر ډول نعمتونه او راحتونه برابر کړل او حضرت محمد ﷺ ئی د خپل استازی په حیث انسانانو ته راولیږه چه ددغو نعمتونو او راحتونو طرف ته دعوت او

بلنه او د الله تعالی پیغام ورسوی. رسول الله ﷺ د الله تعالی بلنه او د جنتونو او راحتونو احوال انسانانو او بشریت ته بیان کړ او د الله تعالی طرف ته ئی دعوت یا (دعوت الی الله) ورکړ کوم چا چه د رسول الله ﷺ بلنه یا دعوت قبول کړ او «لا اله الا الله محمد رسول الله» کلمه ئی د زړه له صدق او په رښتیا ومنله او د دغی کلمی په تابعداری او د حضرت رسول الله ﷺ د فرمان او هدایاتو سره سم ئی ژوند تیر کړ نو هغه به دغه کور یعنی جنت ته ورننوځی او د الله تعالی دهر ډول نعمتونو او راحتونو نه به ګټه او فائده اخلی او څوك چه د رسول الله ﷺ دعوت قبول نکړی دغه کور ته به ورداخل نه شی او له ټولو نعمتونو او راحتونو نه به بی برخی او محروم پاتی شی او په زحمتونو او تکلیفونو او مصیبتونو به اخته ژوند تیروی.

د الله تعالی د میلمستیا (ضیافت) مقصد:

فرښتو دا هم وویل چه د رسول الله ﷺ د دعوت منونکی د هغه فرمانبرداران د الله تعالی د دعوت منونکی او د الله تعالی فرمانبرداران دی او چا چه د رسول الله ﷺ نافرمانی وکړه هغه د الله تعالی نا فرمان دی. څوك چه دمحمد ﷺ نبوت ومنی او د هغه په اقوالو او اعمالو باندی پوره عمل اوتګ وکړی او دغه محمد ﷺ ددی دنیاو مافیهانه زیات محبوب وګڼی لکه چه الله تعالی فرمائی:

«النبي أولی بالمؤمنين من أنفسهم» (دا پیغمبر په مؤمنانو باندی د هغو دځپلو ځانونو نه هم زیات محبوب دی) اوپه هرارزش اوهرقیمت چه ورته تمامه شی دهغه پیروی اتباع او محبت وکړی اود هغه (ﷺ) په لاره یا سبیل الرسول باندی ټینګ روان شی.

د غور او کتنی خبره داده چه الله تعالی له خپله طرفه دغه فرښتی راولیږلی چه د رسول الله ﷺ په وسیله خلکو ته بیان کړی چه دغه محمد ﷺ داعي الی الله دی.

دده له خوا دعوت دعوت الی الله دی. دغه پیغمبر ﷺ د الله تعالی مخلوق ته دعوت ورکوونکی دی څوك چه د هغه بلنه او دعوت قبول کړی یعنی نبوت ئی ومنی موحد شی او ټول ژوند ددغه رسول ﷺ په فرمانبرداری او اتباع کی تیر کړی نو هغه به د الله تعالی د نعمتونو، رحمتونو او فضل او رضا مستحق وی او په آخرت کی به د الله تعالی د ضیافت نه د استفادی حقدار او د الله تعالی میلمه وی او قدردانی او عزت به ئی کیږی. او څوك چه دغه دعوت قبول نه کړی نو هغه به د الله تعالی نافرمان وی.

څنګه چه په دنیا کی په ټولو غیر مذهبو یا بی دینو خلکو دا حکم فرض دی چه هغوی د حضرت رسول الله ﷺ نبوت قبول کړی نو هماغه شان د نبوت په منونکو مؤمنانو باندی هم دا فرض دی چه د حضرت رسول الله ﷺ له سنتو او حدیثو څخه انکار ونه کړی چه ومنی نو عمل هم ورباندی وکړی او په دین کی صرف او یوازی د همدغه محمد ﷺ دعوت ته لبیك ووائی د بل چا په غږ پسی لاړ نه شی، هو! که څوك ددغه پیغمبر ﷺ دعوت او حدیث بیان کړی نو د هماغه احکامو پیروی وکړی ځکه چه صاحب الوحی والکتاب همدغه پیغمبر ﷺ دی او دین مونږ ته دهغه له قول او عمل نه رارسیدلی دی.

(دوام لری)

کوم کار چه د الله تعالی د رضاء لپاره سرته رسیږي الله تعالی ورسره مرسته کوي

حضرت گل «نورستانی»

څرنگه چه پدی ورستیو وختو کی نورستان ته دافغانستان په ملکی ویش کی د ولایت درجه ورکړی شوی، پدی اساس د «دعوت» دمجلی خبریال ددي ولایت له نوی والی ښاغلی حضرت گل «نورستانی» سره مرکه کړی چه دادی د محترمو لوستونکو حضور ته وړاندی کیږي.

پوښتنه: محترم وررور والی صاحب! لطفاً خپل ځان ددعوت مجلی لوستونکو ته معرفی کړی؟

ځواب: بسم الله الرحمن الرحیم ه زما نوم حضرت گل د نورستان د ولایت د «نکری» د کلی اوسیدونکی او دافغانستان د اسلامي دولت له خوا د نورستان د والی په حیث تعین شوی یم.

پوښتنه: د نورستان د ولایت په هکله که مزید معلومات راکړئ مهربانی به مو وی؟

ځواب: نورستان دری برخی لری چه د شرقی، وسطی او غربی برخو ... درو په نوم یادیږی په موجوده حال او تشکیل کی د برگمتال، کامدیش، واما، وایگل، نورستان او مندول په نوم شپږ ولسوالی لری، لدي جملی څخه د نورستان او مندول ولسوالی په غربي نورستان کی موقعیت لري چه پخوا د لغمان په ولایت پوری مربوطی وی او د کامدیش او برگمتال په نوم دوه ولسوالی په شرقی نورستان کی موقعیت لری چه د اسمار د لندی سیند په نوم هم یادیږی او د واما او وایگل په نوم دوه ولسوالی چه په مرکزی نورستان کی موقعیت لری، دا څلور واړه ولسوالی پخوا د کنړ د ولایت مربوطی وی.

پوښتنه: ددی ولایت د مستقل قیام فواید څه دی؟

ځواب: دا چه نورستان پخوا د کنړ او لغمان په ولایتونو کی تقسیم شوی ؤ پدی اساس ددی سیمی د اوسیدونکو لپاره ډیری ستونزی موجودي وی یو دا چه که به ددی سیمی د اوسیدونکو لپاره په حکومت کی څه مسئله پیدا کیدله، د هغی د حل او فصل لپاره مجبور وو چه د کنړ او لغمان د ولایتونو مرکزونو ته ورشی چه د سړك او نورو سهولتونو د نه موجودیت له کبله ورته ډیر مشکلات موجود وو، بل دا چه د وخت د حکومتونو له خوا ورته کومه خاصه پاملرنه نه کیدله، نه پکی صحی مرکزونه موجود وو، نه پکی مدرسی او مکتبونه موجود وو، نه پکی تعمیراتی، انکشافی، زراعتی او مالداری پروژې پکار لویدلی وی، پدی اساس دداؤد د حکومت په وخت کی ددی سیمی خلکو د ولایت د قیام غوښتنه وکړه او دا موضوع لا د وزیرانو په مجلس کی تر غور او بحث

لاندی وه چه روسی کودتاه هر څه په سیند لاهو کړل دا موضوع هم پاتی شوه او د نورستان مسلمانو خلکو د روسی بریڅو پرضد په جهاد لاس پوری کړ، وروسته د کمونیستانو د منحوس قدرت په وخت کی دا ولایت ددی سیمی د خلکو د رضایت د حاصلولو په نیت منظور شو خو د مسلمانو نورستانیانو له ویری پخپله په نورستان کی تطبیق نه شو بلکه د لغمان د ولایت د چهلمتیو په کلی کی د نورستان تش په نوم ولایت فعالیت کاؤه او یو شمیر کمونیستانو تري استفاده کوله، خو کله چه لله الحمد اسلامي انقلاب بري ته ورسید او مسلمانانو په ملك کی د چارو واگی په لاس کی واخیستی او هر چا ته د اسلام په بختور سیوری کی د پتمن ژوند تیرولو شرایط مساعد شول، د نورستان مسلمانو او مجاهدو خلکو هم له اسلامي دولت څخه غوښتنه وکړه چه خپل مشکلات د نورو سیمو په څیر له نژدی څخه حل او فصل کړی، اسلامي دولت هم ددوی دا غوښتنه و-منله پدی معنی چه اوس د ولایت د قیام له لیاری د نورستان مسلمانو خلکو ته د ښوونی او روزنی، زراعت او مالداری، تعمیراتی او انکشافی پرژو په وسیله د خدمت کولو امکانات برابر شول.

پوښتنه: ستاسو له نظره به د مستقل ولایت قیام او جوړښت په عامو خلکو څه اثر ولري؟

ځواب: د نورستان د ولایت قیام د نورستان د عامو خلکو په غوښتنه منځته راغلی، کیدلای شی چه د هغو په ورځنی ژوندانهٔ کي د ډیرو بدلونونو سبب شی، ځکه کوم ارگانونه چه د ولس په خوښه د ولس د خدمت لپاره منځته راځی موفقیت ئی ډیر او د خلکو ملاتړ ورسره وی.

پوښتنه: تاسو د ولایت د منظورۍ په غوښتنه له څه ډول مشکلاتو سره مخامخ شوي یاست؟

ځواب: هغه عناصرو چه له پخوانی کمونیستی رژیم سره ئی همکاری لرله او په هغه وخت کی د نفوذ او قدرت خاوندان وو، ددی ولایت د منظورۍ غوښتنی په وخت کی ئی دا هڅه کوله چه د مسلمانو او مجاهدینو خلکو او اسلامي دولت تر منځ ډول ډول مشکلات ایجاد کړی، خو لدی سره سره کوم کار چه د الله تعالی د رضاء د حاصلولو په نیت سرته رسیږی، الله تعالی ورته په مشکلاتو او ستونزو باندی بري ورکوی، الحمد لله مونږ هم په ښه توگه ددی کار له توان څخه په اسانی سره ووتو.

پوښتنه: دداخلی نظم په هکله مو تر اوسه پوری څه ډول اقدامات کړی دی؟

ځواب: مونږ د ولایت د وظیفی له اشغال نه دمخه یو لړ ستونزو ته متوجه وو او ددی مقصد لپاره مودولایت مقر ته یو هیئت ولیږهٔ څو د منطقی د جهادی ځواکونو له مسئولینو سره له مفاهمي وروسته یوه شوریٰ جوړه کړی، هغوی دا کار وکړ او د جهادی ځواکونو مسئولینو د نورستان په سطحه د امنیت د استحکام او بیا آبادولو لپاره دهر نوع مرستی ژمنه کړی وه او خپل لاسلیکونه ئی مونږ ته رالیږلی دی.

پوښتنه: د شعباتو توزیع او تشکیل مو څرنگه تیار کړی دی؟

ځواب: کوم تشکیل چه دریمه درجه ولایتونه ئی استحقاق لری، د هغو مطابق مو تشکیل جوړ او منظوری مو واخیسته.

پوښتنه: د افغانستان روان حالات څرنگه ارزیابی کوئ؟

ځواب: د افغانستان روان حالات انشاء الله مخ په ښه کیدو دی، د هر انقلاب د بری په درشل کی یو لړ ستونزی موجودی وی، دا ستونزی به انشاء الله د جهادی ځواکونو د مسئولینو او دینی علماؤ په مرسته، د گذشت او عفوی او نورو عالی اسلامی اخلاقو په عملی کولو سره حل او فصل شی. مونږ په آینده کی هڅه کوو چه له نورو جهادی تنظیمونو سره یو ځای له قومی او تنظیمی تعصباتو پرته د افغانستان د بیا ودانولو په کار کی ونډه واخلو.

(ومن الله التوفیق)

لعل محمد «افسوس»

د ارمان کاغذ او د زړه وینو رنګ

د ورځې د زیاتی ګرمۍ له امله د سوو غرونو او غونډو پر سرونو د ګرد او غبار خړ څادر خور ؤ، زیړی لمر د رخصتیدو او مخه ښې په حال کی ؤ. چه د توری شپی خاموشی په زور کی شوه او د لمر ملالې وړانګی ئی د وطن له پر هر پرهر وجود څخه پنا ه کړی.

او د شپی توره لمن را خپره شوه خو زما احساس ددی حالاتو په تیریدو او راتلو زما په سینه کی غلی غلی تخنیدهٔ او زما تخیُل ئی د یو خاص خیال او فکر په لور چمتو کاؤ.

لنډه دا چه د ماښام هنګامې تیری شوی او ترږمی ددنیا مخ په توره څیره بدل کړ. د ډوډۍ خوړلو وروسته د ماسخوتن د اذان په انتظار ؤم، چه لمونځ وکړم او بیا ارام وکړم! دا هر څه تر سره شو، په خپل بسترکی څملاستم ، مګر زما په لیمو کی د خوب او آرام لیوالتیا داسی ورکه شوه لکه چه طبعي عادت نلرم. خیر؛ په یو او بل فکر کی مبتلا ووم چه د شفق په لارو د یوی خوشحالوونکی رڼا مسکا وشوه، زما د انتظار لحظي ئی ډیری اوږدی نه کړی او لږه شیبه وروسته د دنګو غرونو په سرونو سپینی سپوږمۍ د وریځی د سور سالو څخه خپل سپین مخ را ښکاره کړ. ما ورته ډیر په زیر زیرکتل، مګر هغه هم ورو ورو د پیغلتوب په حسن مغروره د آسمان منځ ته رانږدی کیده، زه ئی هیڅ د ښکلا په دیدن نه مړیدم، مګر څومره چه زما سترګی ددی د لیدلو وږی وی دومره می د احساس تنده هم لیونۍ وه او د قلم نفس می هوا کوله، چه زه مجبور شوم او له خپل بستره پورته شوم او له کوره بهر ووتم او د غره لمن ته لکه د نیمو شپو د لاروی روان شوم.

د غرهٔ د لمنې یوې غونډۍ ته وختم او هلته د یوې تیږې په سر د یو مجبور څارونکی په څیر غلی کښیناستم. ما د کلی لورته ډیر په حیرت حیرت کتل او هره خوا چه به می سترګو غوښتل چه وګورم، سپینی سپوږمۍ به د احسان څخه له ډکو پلوـ شو په ذریعه زما سره مرسته او تعاون کاؤ. او هره کوڅه به ئی زما سترګو ته روښانه کوله، ما ټول وران او کنډر کنډر کورونه له نظره څخه تیر کړل او

یوه بنه شیبه له فکر او خیال څخه وروسته می د احساس ماشوم زړګی د کنډر کنډر کورونو په لیدلو ډیر دردمن او له سترګو څخه مي غوټۍ غوټۍ اوښکې د ارمانونو ګریوان ته شیبه په شیبه رخصتیدې او لاس د زنی داسی ناست ووم لکه چه د شهید ورور مزار ته ژاړم، هر کنډر او وران شوی کور به می چي لیدهٔ، ما به د ځان سره دا فکر کاؤ، څنګه چه دا کورونه وران شوی داسي هم ددی کورونو هستوګن یا خوئی له نیمګړی دنیا څخه سترګی پټی کړی، یا ئي د معیوبیت تیزاب د بدن په اعضاؤ زغملی او یا خوئی د مجبورۍ له تندې د بی وطنۍ زهر نوش کړی!!!

همدا هستوګن دی چه څوک یتیمانان شویدی او د چا دکونډ توب په ارمانجن پرهر مالګه دوړیدلې ده.....خو دا ټول جریانات تیر شوی دی او اوس ددی سیمی پر سر د آزادۍ شال خور دی، ددی زرین شال لاندې ددی سیمی سینګار ته ضرورت دی.

دا شال برسیره له دې سینګاره بی معنا او بی کفایته دی، زما په خیال دا سینګار ددی سیمی یوی سر پرستۍ ته اړتیا لری! دا سیمه هغه نظام غواړی، دکوم په مقصد چه مونږ خپل ځانونه قربان کړی او دا نظام د الله جل جلاله او د الله د رسول صلی الله علیه وسلم ریښتینی او حقیقی نظام دی، دلته د ظالم له منګلې څخه د مظلوم تپوس په کار دی، دلته د ورۍ نس له چاودی خیتی څخه پوښتل ضروری دی، زه نه غواړم چه دلته نور دا کنډر کنډر کورونه په حیرت او خواشینۍ ووینم!غواړم چه ددی کورونو خاوندان د خوښۍ او ارامۍ فضاء کی مسکی ووینم! دا نور نه غواړم چه دا ګلالی غرونه د نفاق په لمبو وسوزی او دګرد، غبار او لوګی ځای وی! نه غواړم چی ددی سیمی بچیان هر یو جدا جدا مرام او مقصد ولری او په بیلو بیلو لارو روان وی! غواړم لکه د یوی سجدی په مقصد، د یوي رکوع په قومنده او د یو صف ځښتنان وو سیږي!

ما د ارمان په کاغذ، د زړه د وینو په رنګ ټولی منسوبی جوړی کړی او بیرته د کور خوا ته را روان شوم، د کلی په کوڅو کی ما ته د کلي سپو غپل، ما د کلی سپو ته وویل چی ای سپو! زه د ولس او وطن غل نه یم! هغه چا ته وغاپئ چی د ولس او وطن غل وی. زه هغه لاروی یم چه خپل روا او حق منزل ته ځان د نیکو اسلافو په نقش قدم رسیدهٔ غواړم! مګر بیا هم ماته د کلی سپو غپل. خو ما ته د پښتو ژبی یو مشهور متل په یاد راغي چه «سپی غاپی او کاروان تیریږی».

زه ئی د وطن مؤمن او عاقل بچی ته د ارمان په کاغذ او د زړهٔ د وینو په رنګ لیکم!!

نور هغه پوی شه او د هغه ایمان او وجدان. چه په خپله سینه کی څومره د خیر او غیرت ظرفیت لری!

زه به خپل روا مقصد ته د اوچتیدو ګام اخلم، اګر که له خپو لاندی می اغزی واقع کیږی، اغزی روان درد مندوی، مګر له تګ څخه ئی نه شی بندولی او د کوڅو سپی غپیږی مګر د حقی لاری لاروی نه شی ګرځولی.

وما علینا إلا البلاغ

په باجوړ کې د افغانستان د جماعة الدعوة الی القران والسنة

د تنظیم د قوماندانانو غونډه

د ۱۹۹۳ میلادی کال د اګست د میاشتې له ۲۷مې نیټې څخه تر ۲۹مې نیټې پورې په باجوړ ایجنسۍ کې د صدیق آباد په جامع مسجد کې دجماعة الدعوة الی القرآن السنة د قوماندانانو، مشرانو او عالمانو یوه درنده غونډه وشوه، په غونډه کې دکنړونو ولایت ټولو قوماندانانو، قومي مشرانو، سپین ږیرو او علماء کرامو ګډون کړی ؤ.

غونډه د کلام الله مجید د څو مبارکو آیاتونو په تلاوت سره پیل شوه. د غونډې برخه والو څو تنو علماؤاو مشرانو پخپل وار سره غونډې ته ګټورې ویناوې وکړې. وینا کوونکو د کمونیستي ښکیلاکګرو په مقابل کې د افغانستان د مظلومو او بې دفاع مسلمانانو د جهاد په اعلانولو او بالآخره له څوارلسو کالو مسلسلو قربانیو وروسته د کمونستی ښکیلاك شکست او دمسلمانو افغانانو په برې مفصله رڼا واچوله، همدا رنګه دنفاق په منفی تاثیراتو او د اتحاد او یووالی موثر او مثبت نتائج یې بیان کړل.

په غونډه کې د کنړونو ولایت د امنیت د تأمین او ددې سیمې د مسلمانو خلکو د لاسوکالۍ او ارامۍ په باب خاص غور وشو او ددې کار د سرته رسولو لپاره یې د سر او مال د قربانو ژمنې وکړې. د غونډې په پای کې د جماعة الدعوة الی القرآن السنة امیر شیخ سمیع الله اختتامیه وینا وکړه او ویې ویل: ای د کنړونو ولایت سر تیرو مجاهدینو!

تاسې ټولو په عملی ډول ولیدل چه همدا تاسې د لمړی ځل لپاره د الله تعالی په پاك دین ننګ وخوړ اودسر او مال قربانۍ ته چمتو شوئ او همدا تاسې واست چه الله تعالی درته لمړی فتحه هم نصیب کړه او د شیخ جمیل الرّحمٰن رحمه الله شهید تر قیادت لاندې مو دا لوی افتخار یوازې د افغانستان په سطحه نه بلکې د نړۍ په تاریخ کې مو لاس ته راوړ. پدې ویاړ باندې تاسې ټولو مسلمانانو ته د الله تعالی شکر ویستل په کار دي او که الله مه کړه شکر ونه باسئ نو لکه د افغانستان ددې ځینو نورو سیمو د عذاب په ځیر به عذاب در باندې راشي. شیخ سمیع الله زیاته کړه دا خپل منځی جنګونه دکمونستو بقایاؤ

د انتلافونو په نتیجه کې منځ ته راغلی دی. دې خپل منځی جنګونو په افغانی تاریخ کې داسی بد نوم پرېښود چه د چنګیز ظالمانه تاریخ ترینه هم ګیله مند دی.

ځکه الله تعالی پر تاسو که تاسی وګورئ ډیر ډیر احسانات او پیرزونی کړیدی، دجهاد تاج د جهاد د پیل نه واخله تر شهادته پوری شیخ جمیل الرحمن (رحمة الله) اوچت وساتهٔ او د ټول افغانستان ګوټ ګوټ ته یی د جهاد زرینې وړانګی منعکس کړی. د لمړی ځل لپاره د کنړ له کاملی فتحی وروسته داسلامي امارت تر عنوان لاندی په دی ولایت کی اسلامي عدالت قیام وموند او شرع الله نافذ شوه او لنډه دا د همدی جهاد نتیجه وه چه په افغانستان کی باطل ځواکونه نسکور او اسلامي حکومت په وجود کی راغي.

دا ټول انعامات الله تعالی مونږ ته د یووالی او یو موټی توب په بد ل کی چه د کفر په ضد مو د جهاد اعلان کړی ؤ، راکړل او د تیر یو کال په بهیر کی چه د یوالی او وحدت رسي وشلیدله،بدی اغیزی او ستونزی چه د الهی عذاب ښکارندوی وو تاسی په خپل سترګو مشاهده کړل.

غونډه د جماعة الدعوة امیر دټول مسلمان امت دیووالی او اتحاد په دعایي سره پای ته ورسیده او ټولو قومندانانو، مشرانو او عالمانو د لاندی پریکړی په صادرولو د خپل صادقانه ګام د اخستلو اظهار وکړ:

١- مونږ د جماعة الدعوة الی القرآن والسنة ټول قومندانان او مسئولین یو ځل بیا ژمنه کوو چه د توحید دبیرغ دپورته ساتلو په منظور به هر ډول قرباني ورکوو.

٢- د شهید شیخ جمیل الرحمن رحمه الله قاطع او غوڅ اسلامي موقف او ټګ لاره به زمونږ ټګ لاره او موقف وی.

٣- مونږ په ګډه د جماعة الدعوة د قیادت تائید کوو او په نیکیو کی تری پوره ملاتړ کوو.

٤- په افغانستان کی د جماعة الدعوة د حقه حقوقو د حصول په خاطر هر ډول قرباني ته اماده یو.

٥- په اسلامي دولت کی باید جماعة الدعوة ته پوره حق ورکړی شي، ځکه دا جماعت او ددی شهید امیر د جهاد امام او بانی دی، دی جماعت په ټولو ساحو کی پوره قربانی ورکړی ده او ددی جماعت په حقوقو سترګی پټول به ظلم او بي انصافي وی.

٦- مونږ د خپل قیادت ټولی فیصلی قبلوو.

٧- د ورونو تر منځ به د تفاهم او وحدت فضاء د بر قرار ساتلو په لاره کی هیڅ ډول دریغ نه کوو.

٨- دکونړ د دولتی اداری په هکله چه کومه فیصله شویده، حاجی صاحب غلام صادق (قاضي) ئي د والي په صفت تعین کړی دی، زمونږ تأیید او په ټولو وسایلو او امکاناتو تری دفاع کوو.

٩- د نورو تنظیمونو سره دګډی اداری په جوړولو توافق لرو.

د نبوي ملغلرو امېل

د ويدهٔ كيدو په وخت كي دعاء:

د ويدهٔ كيدو په وخت كي اية الكرسي ولولئ دا ځكه چي د اية الكرسي په ويلو سره الله تعالی د لوستونكی د پاره نيگوان راليږی چی بيا شيطان تر سهاره پوری ورته نژدی نه راځی. (مشكوة - كتاب فضايل القرآن)

اية الكرسي دا لاندی ده!

«الله لا اله الا هو الحيّ القيوم لا تأخذه سنة ولا نوم له ما في السموات وما في الارض من ذا الذي يشفع عنده إلا بإذنه يعلم ما بين أيديهم وما خلفهم ولا يحيطون بشيء من علمه إلا بما شاء وسع كرسيه السموات والارض ولا يؤده حفظهما وهوالعلي العظيم»

ترجمه: له الله پاك څخه پرته بل څوك د عبادت وړ ندي، هغه ژوندی او قائم دی نه ئی خوب وړی او نه خوب ورځی، په مځكو او آسمانونو كی د ټولو شيانو څښتن دی، هيڅوك د هغه له اجازی نه پرته سفارش ورته نشي كولای، په مخكی او وروسته ټولو حالاتو باندی خبر دی او په يوهٔ شی باندی هم د هغه علم محدود كيدای نه شی، مگر چه هغه وغواړی او د مځكو او اسمانونو ساتنه هغه نشي ستړي كولای، هغه لوی او د عظمت خاوند دی.

دوهمه دعاء:

له حضرت حذيفه (رضي الله عنه) څخه روايت دی كله چی به رسول الله صلی الله عليه وسلم په بستره كی سر ننويستهٔ نو خپل ښی لاس به ئي تر سر لاندي كړ او دا دعاء به ئي ولوستله!

«اللّهم باسمك أموت وأحي»

ترجمه: الهي ستا په نوم مرم او ژوندي يم.(مشكوة-باب ما يقول عند الصباح والمساء و المنام-فصل اول)

دريمه دعاء:

«باسمك ربىّ وضعت جنبي وبك ارفعه إن أمسكت نفسي ما رحمها وان ارسلتها فاحفظها بما تحفظ به عبادك الصالحين»

ترجمه: الهي ستا په نوم پريوتلم او ستا په نوم به پاڅيږم، كه چيری بيا زه مړ شوم نو ته رحم راباندی وكړه او كه ژوندی پاتی شوم نو بيا می تهٔ ساتندوی شی، لكه څنگه چی د خپلو نيكو بندگانو ساتنه كوی.

د بې خوبی تداوي: يوه ورځ

حضرت زید بن ثابت رضي الله عنه رسول الله صلى الله علیه وسلم ته وویل چی خوب راته نهٔ راځی. رسول الله صلى الله علیه وسلم ورته وویل: چې له ویدهٔ کیدو نه مخکې دغه دعاء ولوله!

«اللّهم غادت النجوم و هدأت العیون و انت حي قیوم لا تأخذك سنة و لانوم یا حيّ یا قیوم اهدئ لیلي و انم عیني» (عمل الیوم واللیلة لابن السني صـ ۲۵۱ نزل الابرارصـ ۱۲۲)

ترجمه: یا الله! ستوری ولویدل، سترګی پټی شوی، ته ژوندی ئی،قائم ئی او خوب درته نه درځی. ای ژوندی او قائم ذاته! ما آرام کړه او ماته خوب راوله. حضرت زید فرمائي چه ددي تر لوستلو وروسته زما تکلیف رفع شو.

د پاڅیدو په وخت کي دعاء:

له حضرت حذیفه رضي الله عنه نه روایت دي چه کله به رسول الله صلى الله علیه وسلم راویښ شو نو دا دعاء به ئي لوستله!

«ألحمد لله الذي أحیانا بعد ما أماتنا و إلیه النشور» (مشکوة)

ترجمه: ټول صفتونه لوي الله لره دی، چی له وژلو نه وروسته ئي بیرته ژوندي کړم او د هغه لورته به رجوع کوو.

خاك انداز ته له داخلیدو نه مخکي دعاء:

«بسم الله اللهم انيّ أعوذ بك من الخبث والخبائث» (مشکوة-باب اداب الخلاء)

ترجمه: د الله په نوم داخلیږم، اي الله! زه پناه غواړم له ناپاکو جنیاتو څخه.

له خاك انداز نه د باندي راوتلو دعاء:

حضرت عائشه رضي الله عنها روایت کوي چي کله به رسول الله صلى الله علیه وسلم له خاك انداز نه راوتلو نو دا دعاء به ئي لوستله:

«غفرانك»

الهي زه له تا څخه بخښنه غواړم.

حضرت انس رضي الله عنه روایت کوي چي کله به رسول الله صلى الله علیه وسلم له خاك انداز څخه د باندي راوتو نو داسي به ئي فرمایل: الحمدلله الذي اذهب عنيّ الأذی وعافاتي.

ټول صفتونه الله لره دي چي زه ئي له تکلیف نه خلاص او آرام کړم.

د اوداسهٔ دعاګاني:

له اوداسهٔ نه مخکی بسم الله الرحمن الرحیم ویل ضروري دي.

حضرت عمر رضي الله عنه روایت کوي چي رسول الله صلي الله علیه وسلم وفرمایل:

له اوداسه نه وروسته که چا دا کلمي وویلي:

نو د جنت اتهٔ واړه دروازی به ورته خلاصي کړی شی.

«أشهد أنْ لا اله إلاالله وحده لاشریك له و أشهد أن محمداً عبده ورسوله»

ترجمه: زه شاهدي ورکوم چي له الله تعالی نه پرته بل څوك د عبادت وړ ندی، هیڅ شریك او ساري نلري او زه شاهدی ورکوم چی محمد صلی الله علیه وسلم د هغه بنده او رسول دي.

دویم حدیث: د جامع ترمذي شریف د روایت له مخي له شهادت کلمي سره باید دغه دعاء هم وویل شي: «اللّهم اجعلني من التوابین و اجعلني من المتطهرین».

ترجمه: اي الله! ما د توبه کوونکو په ډله کي شامل کړه او دپاکو خلکو په قطار کي مي وشميره.

دتهجد دلمانځه استفتاح دعاء:

حضرت عايشه رضي الله عنها روايت کوی چه نبی کريم صلی الله عليه وسلم به چه کله د شپی له خوبه را ويښ شو، خپل لمونځ به ئی شروع کاوه نو د استفتاح په ډول به ئی دغه دعاء لوستله:

«أللهم رب جبرائيل وميکائيل و اسرافيل فاطر السموات والأرض عالم الغيب والشهادة أنت تحکم بين عبادك فيما کانوا فيه يختلفون اهدنی لما اختلف فيه من الحق باذنك إنك تهدی من تشاء إلی صراط مستقيم». (مشکوة)

ترجمه: يا الله! اي د جبريل او ميکائيل او اسرافيل ربه! اي د ځمکي او اسمانونو پيدا کونکيه! اي په غيبو او ښکاره ؤ خبرداره! ته فيصله کوونکي ئی د خپلو بندگانو تر منځ په هغو شيانو کی چه دوی په کی اختلاف لری. ته راته هدايت وکړی د اختلاف په هغو خبرو کی چه کومی حقي وی په خپل توفيق سره، بی شکه ته هدايت کوی د مستقيمی لاری هغه چاته چه وئی غواړی.

د تلاوت د سجدي دعاء:

رسول الله صلی الله عليه وسلم په سجده تلاوت کی دری ځله دا دعاء لوستله:

«سجد وجهي للذي خلقه وصوره وشق سمعه و بصره بحوله وقوته فتبارك الله احسن الخالقين». (مشکوة ـ باب سجود القرآن)

ترجمه: زما مخ سجده کوی هغه ذات ته چه هغه پيدا کړی دی او د هغه صورت ئی جوړ کړی دی خلاص ئی کړل د هغه غوږونه او سترگی په خپل خاص حفاظت او امداد سره، د برکت خاوند الله دی هغه ډير ښه پيدا کوونکی دی.

دريم حديث: په دريم حديث کی ددغی دعاء يادونه هم شويده:

«سبحانك اللهم و بحمدك أشهد أن لا إله إلا الله أنت أستغفرك و أتوب اليك». (مجمع الزوايد ص ۲۳۹ ج ۱)

ترجمه: اي الله! ته پاك ئی، ټول صفتونه تا لره دی، زه شاهدی ورکوم چه بي له تا بل څوك د عبادت وړ ندی زه له تانه بخښنه غواړم او تاته رجوع کوم.

په ځينو حديثونو کی راغلی دی چه له اوداسهٔ نه وروسته ددعاء لوستلو په وخت کی بايد د أسمان لور ته وکتل شی، که څه هم د اودس کولو په وخت کی د هری دعاء لوستل روا دی ځکه چه د ځينو دعاگانو د لوستلو صحيح اصل موجود نه وی. خو د اوداسهٔ په منځ کی دی دعاء بايد و لولی.

ای الله! زما گناه معاف کړی او زما لپاره زما کور پراخ کړی او زما په روزی کی برکت واچوی.

(نور بيا)

د عيد ميلاد نبي صلى الله عليه وسلم شرعي حيثيت

(مولوی عبدالحلیم شفیقی)

ددی حقیقیت څخه هیڅ کله انکار نه شی کیدلای چه د نظر او فکر خاوندانو د زوق او مشرب په بنأ په اسلامي اجتماع او ټولنه کی د یوی قدیمی او پخوانۍ زمانی راهیسی د مختلفو فکری مکاتبو او مسلکونو تر منځ اختلافات موجود او جریان لری او هر یو فکری مکتب او یا مسلک د خپلو الله داد استعدادونو په اندازه ددین د خدمت او ترویج په اړوند خپله فریضه ترسره کړی او تر سره کوی.

په تیرو زمانو کی د شر خوښوونکو او سازشی عناصرو د هلو ځلو په اساس ددغو فکری مکاتبو او مسلکونو تر منځ بی شمیره مشکلات او ستونزی او حتیٰ جگړی او جنگونه واقع شوی دی، چه له دی امله په اسلامي ملت کی خورا زیات نه هیریدونکی نقصانات منځ ته راغلی. خو داسلامي ملت دردمندو او زیرکو اشخاصو ددی عظیم نقصان په محسوسولو د باهمي بقا په اصل دی ته توجه وکړه او خپلو طرفدارانو او تابعینو ته ئی په نوروفکری مکتبونو او مسلکونو د طعن او بدو ردو د ویناگانو څخه د منع کیدو سخته توصیه وکړه چی الحمد لله خورا ښکلی نتائج یی د اسلامي امت لپاره را منځ ته کړل.

څرنګه چی افغانستان هم یو تاریخی او اسلامي هیواد دی، ددی مملکت د اوسیدونکو مسلمانانو میړانه او بهادری نړیوالو ته ډیره ښه معلومه شویده، دلته د افغانانو د نوری پیژندگلوۍ څه خاص ضرورت نه لیدل کیږی البته د ځوارلسو کلو د جهادی پړاو تر پایه وروسته د مختلفو فکری مکاتبو او د افغانستان په سطحه ملك گیرو ادارو ته د پیشنهاد په شکل دا خبره واضح کول غواړو چه دوی دی په خپلو اشاعتی او ابلاغی ذرائیعو کی داسی مواد شامل کړی چه داسلامي افغانستان دټولو فکری مکاتبو په وړاندی د منلو وړ وی او دشرعی صحیحو حقایقو په نظر کی نیولو سره سره د کوم مسلك یاد کوم فکری مکتب دل ازاری پکی نه وی، تر څو د شر خوښوونکو او سازشی عناصرو د پاره د اسلام تر عنوان لاندی فکری مکاتبو او مسلکونو با همی لازمو تعلقاتو په تخریبولو کی لاری د همیشه لپاره بندی شی او د ټولو مسلمانانو مشترك دشمن چه شپه او ورځ لگیا دی او داسلامي دعوت او اسلامي نظام د حکم پر خلاف سازشونه کوی، ددوی په خلاف په متفقانه ډول پروگرامونه او طرحی د خپلو نشراتي او اشاعتي اُرگانونو او ذرائعو له لاری په نظامي او سیاسی میدانونو کی مثبت او سنجیده اقدامات وکړل شی، تر څو دداسی متفقانه جهاد په نتیجه کی حق پر باطل غالب او متحقق شی او د الله جل جلاله رضأ چه د متعهد و مسلمانانو هدف بلل کیږی مو په نصیب شی.

اوس اصل مطلب ته راځو او هغه دا چی ځینی خلك د یو لړ خاصو ورځو څه په عجیب او غریب ډول لمانځل کوی. مثلاً یو مسلك خلك د محرم لسم څه پر داسی ډولونو لمانځی چی یو مسلمان ورته گوته په خوله پاتی شی چه په دی اړوند ددعوت مجلی یوې مخکینۍ گڼی یو مضمون خپور کړی دی. او یو مسلك بیاد ربیع الأول دولسمه لمانځي.

هغه به څوك نامراده او د الله جل جلاله له رحمته څخه لیری انسان وی چه د حضور نبی کریم صلی الله علیه

وسلم په با برکته او له کرامته ډك ولادت خوشحالي نه محسوسوي. لیکن دخوشحالی او خفگان د اظهار په طریقو او کیفیت کی فرق وي.

د اهل سنت والجماعت د فکری مکاتبو په دی خبره اتفاق دی چه د هادی اعظم صلی الله علیه وسلم دژوند د نورو شعبو په شان د خوشحالۍ او خفگان د اظهار او کیفیت په حقله د مکملو طریقو لارښوونه شویده، چه ددغو طریقو په خلاف دغم یا دخوشحالۍ اظهار دا صحیح نه دی، بلکه تجاوز دی نو د نبی کریم صلی الله علیه وسلم د ولادت ورځ لکه د نورو معروفو أشخاصو د ولادت د ورځو په شان لمانځل او د خاص وخت، ورځی او میاشتي تعین او په خاص انداز کی لمانځۍ. مونږ پدی پوهیږو او په ډاډه زړه دا وایو چه دا طریقه د دواړو جهانونو د سردار د قدر د پیژندنی پر خلاف عمل دی او د محمد صلی الله علیه وسلم د پاك سیرت سره نا انصافی ده.

ددی نه علاوه د ربیع الأول په دولسم تاریخ چه د نبی کریم صلی الله علیه وسلم د ولادت ورځ ده او همدغه تاریخ د حضور صلی الله علیه وسلم د وفات ورځ هم ده دحضور صلی الله علیه وسلم ولادت دومره لوی او عظیم الشان نعمت دی چه د کائناتو هره ذره ذره د رباني عطاً په وجه په جوش او وجود کی راغلي، لیکن ددی سره سره د حضور صلی الله علیه وسلم د وفات واقعه هم دومره له غمه ډکه صدمه ده چه ټول کائنات اوس هم د فراق د صدمي په تصور د غمونو او آلامو مصیبتونو په چپو کی غرق او ډوبیږی. دا خو هغه تاریخ دی چه د مدینی منوری په کوڅو کی د حضور صلی الله علیه وسلم د وفات د گونگسی په اوریدولو صحابه کرامو د غم دشدت له امله خپل هوش له لاسه ورکړی ؤ، حضرت عمر رضي الله عنه په شان با حوصله شخص توره په لاس په میدان ولاړ ؤ او نه یی غوښتل چه د حضور صلی الله علیه وسلم د وفات خبر نور واوری. حضرت فاطمة الزهراء رضي الله عنها له ډیره غمه چغی وهلی چه دا د هغی د خولی یو څو الفاظ دی:

«صبّت علي مصائب لو انها
صبت علی الأیام صرت لیالیا »

یعنی؛ « نن په ما دومره مصیبتونه راټول شوی دی چه که چیرته دومره مصیبتونه په رڼو روځو واقع شی نو په تورو شپو به بدل شي!» نو په دی ورځ د حضور صلی الله علیه وسلم د ولادت جشن لمانځل او مناوول او د وفات دردمنده صدمه له یاده ویستل دا د کوم انصاف ځای دی! الله جل جلاله ددنیا د ټولو خوشحالو څخه لویه خوشحالی او له ټولو غمونو څخه لوی غم په دی یو تاریخ یعنی د ربیع الأول د میاشتی په دولسم واقع کړی دی نو پکار دی چه په دی تاریخ باندی له اعتدال او توسط څخه کار واخیستل شی او همدغه روش او تگ لاره به ددی تاریخ لپاره احسن او ښه تقاضا وی.

همدارنگه زمونږ طرز او طریقه د شرك او بدعت په باره کي واضح او ښکاره ده. مونږ چیرته چه د صریح شرك څخه بچ کیدل ضروری او لازمی گڼو هلته داسی انداز او طرز هم جائز نه گڼو تر څو یوه اجتماع او ټولنه یا یی افراد د شرك د ظلمت په کنده وروغورزو او د سنتو له رڼا څخه یي وباسو او د بدعت په خرافاتی ژوند یی ور داخل کړو چه دا جتماع او د فرد ددائمي زیان او خسران سبب دي.

ددی لنډ او مختصر وضاحت څخه وروسته مونږ بلا خوف او لومة لائم د خپلی عقیدی ظاهرول غواړو چه مونږ دحاظر او ناظر د مشهورو او مروجو خیالاتو په وجه اقای دو جهان صلی-الله علیه وسلم یا دده نه علاوه بل مقدس مخلوق د پاره په غیاب کی د خطاب صیغه جائز نه گڼو. زمونږ دا عقیده ده چه نبي کریم صلی الله علیه وسلم زمونږ لپاره صرف دوه عیدین (اخترونه) مقرر کړی دی چه یو عید الفطر (کوچنی اختر) او بل عید الأضحی (لوی اختر)دی ددی نه علاوه بله کومه یوه داسی د خوشحالۍ ورځ د عید په عنوان یادول یا لمانځل بدعت او ناجائزه باید وگڼو.

نو په دی اساس د افغانستان د فکری مکاتبو او ادارو څخه دا هیله څرگند ؤو چه د راتلونکو نسلونو د پاره د قرآن او سنت د ارشاداتو مطابق، د خپلو نشراتي او اشاعتي ذرایعو او چینلونو له لیاری او طریقو څخه یوه داسی لاره انتخاب کړی چه مطلقاً د هر ډول شرك او بدعاتو څخه بالکل پاکه وی، تر څو وکولائی شو چه له یوی خوا د خپل لوي ذات په وړاندی مسؤلیت رفع کړو او له بلی خوا د راتلونکو نسلونو د پاره صحیح لاره اتفاقاً انتخاب کړو.



د لیکونو بهیر

د جندول د معیارو له کیمپ څخه ګران ورور لائِق الدین په خپل رالیږلی لیك کی داسی لیکي:

ددعوت مجلی ټولو کار کوونکو ته د زړهٔ له کومي سلامونه او احترامات وړاندی کوم او د لوی الله جل جلاله په دربار کی دا سوال کوم چه دعوت مجله دی د اسلامي دعوت په کار کی همیشه سر لوړی او کامیابه وی!

دعوت مجله همیشه د بین المللی نیرنګونو او مکرونو په مقابل کی ښه په کلکه او ویښه مبارزه کوی او دایي لازمه ګڼلی ده چه داسلام پرضد داسلام د دښمنانو څارنه وکړی او ټولو مسلمانانو ته جوته کړی چه د مسلمان ملت دوست څوك او دښمن ئی څوك دی.

محترمو: زه یوه پوښتنه کول غواړم او هغه دا چه د افغانستان جماعة الدعوة الی القرآن والسنة تنظیم هم د افغانستان د نورو جهادی تنظیمونو پشان یو جهادی تنظیم دی، دی تنظیم ته تر اوسه د افغانستان په اسلامي دولت کی چه اعلان شویدی، په کابینه کی کومه خاصه برخه نه ده ورکول شوی او حال دا حزب وحدت چه داسلام د مبین دین سره د منشور او مرام له مخی پوره توپیر لری او ددی تنظیم په پرتله ډیر محدود هم دی، ښه پوره سهم ورکول شویدی، آیا دا د جماعة الدعوة سره د اسلامي دولت نا انصافي نه ده؟ که په دی هکله څه معلومات راکړئ ډیره به ښه وی.خوشحاله او بریالی اوسئ!.

د جندول د معیارو د کیمپ ګران ورور لایق الدین صاحب!

سلامونو ته مو وعلیکم السلام وایو، ستاسی د احتراماتو او د اسلامي دعوت لپاره ددعوت دمجلی د توصیفولو مو ډیره ډیره مننه کوو او د دعوت مجلی د سر لوړی او کامیابی په دعا مو امین وایو.

ددعوت مجلي ګرانه کتونکیه! تاسی ته به دا بهتره معلومه وی چه جماعة الدعوة لکه د نورو جهادی تنظیمونو غوندی یو جهادی تنظیم ذی او ددی تنظیم شهید لارښود شیخ جمیل الرحمن (رحمه الله) په افغانستان کی دلومړی ځل لپاره د ملحدینو په مقابل کی جهاد اعلان کړی ؤ او د همدی تنظیم د جهاد برکت ؤ چه د کنړونو ولایت د لومړی ځل لپاره د ملحد رژیم له سلطی څخه خپله آزادی د الله تعالی په نصرت سره حاصله کړه. د کنړونو ولایت کی د نورو

جهادی او واقعبینانه اشخاصو په ګډون یی د ځونی په توګه په دی ولایت کی شرعي نظام قایم کړ.

د جماعة الدعوة الی القرآن والسنة مرام او منشور که تاسی مطالعه کړی وی نو د جماعة الدعوة اولنی مرام د الحاد او شرك په ضد مبارزه او په هیواد او ټوله نړی کی د قرآن او نبوي سنتو بر لاسی غواړی، ددی هدف دا دی چه د انسان ساخت قانون یا نظام دی پر انسانانو مسلط نه بلکه د انسانانو د «رب» قانون دی پر ټول انسانیت مسلط وی، نو د جماعة الدعوة مجاهدینو ددی لپاره جهاد نه دی کړی چه په افغانستان کی چوکی تر لاسه کړی جهاد یوه فریضه او د الله تعالی د مکمل قانون د حاکمیت لپاره مو تر سره کړیده او نوره به هم د الحاد او هر ډول شرك پر ضد خپله مبارزه ژوندۍ ساتی.

حزب وحدت چه په اوسنی اسلامي دولت کی سهیم دی، ددوی د مرام او منشور په هکله چه هغوی په اساسی قانون کی د جعفریه فقهی په باب غوښتنه کړیده، ددي د ځواب په هکله د جماعة الدعوة له امیر شیخ سمیع الله سره ددعوت مجلی خبریال یوه مرکه کړیده چه ددی پوښتنی ځواب تاسی په همدي ګڼه کی مطالعه کولی شئ. امید دی چه ستاسی پوښتنی ته به مو څومره چه امکان لري ځواب ویلی وي.

والســـــــلام

* * * * *

له مردان نه حضرت بلال ورور داسی لیکی:

محترمو ددعوت مجلی مدیر او نورو کارمندانو!

السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته

له هر څه نه مخکی مو د کامل صحت او عزت غوښتونکی یم! الله تعالی دی د پاکی عقیدی د نشر او اشاعت په لړ کی نور هم توفیق او کامیابی در په برخه کړی! امین.

دعوت مجله ډیر په زړه پوری او ښایسته مضامین لری، لیکن متأسفانه چه مونږ ته پخپل وخت نه رارسیږی او بل ما مخکي هم یو لیك ددعوت مجلی په نوم دراستولی ؤ؛ مګر تر اوسه نشر ته ونه سپارلی شو، امید دی چه دا لیك به می نشر ته وسپارئ. « په درنښت »

د مردان ګران ورور حضرت بلال صاحب!

سلامونو ته مو وعلیکم السلام وایو، ستاسی د نیکو احساساتو او د مجلی د ستایلو مو مننه کوو!

تاسی د مجلی د نه ... تر لاسه کېدلو ګیله کړی ده لیکن وروره! زمونږ د توزیع وسایل ډیر محدود دی، په دې

خاطر اکثره ددعوت مجلې لوستونکي زمونږ نه ګیله مند دي. مونږ په مخکې ګڼه کې هم د یو ورور په ځواب کې ویلی وو چه که وروره تاسی یا ستاسی نور کوم ملګری پیښور ته راځي نو ښه به دا وی چه پخپله مجله تر لاسه کړئ او هم به یې خپلو نورو دوستانو ته ورکړئ.

بل تاسی د لیك د نه نشر ګیله کړی ده، لیکن وروره ستا بل لیك زمونږ تر لاسه نه دی رارسیدلی، دادی دا لیك مو راورسید او نشر ته مو وسپارلو. خو ځینی ورونه داسی لیکونه را واستوی چه تاسو یقین وکړئ چه د نشر قابل په کی هیڅ هم نه وی، نو ورونو مونږ هغه لیکونه نشروو چه په مجله پری څه نیوکی، وړاندیز ونه او تجویزونه وجود ولری، څکه دعوت مجله ستاسی غوندی دګلو لوستونکو په نیوکو، وړاندیزونو او تجاویزو خپل معیار ته رسیدلی ده.

هیله ده چه د لیك د نه نشر ګیله به مو رفع شوی وی.

* * * * *

د ننګرهار ولایت د چپرهار د ولسوالی څخه زمونږ یو ورور لطف اللّٰه «توخیدیار» صاحب لیکی:

محترمو ددعوت مجلې ټولو کار کوونکو ورونو!

السلام علیکم ورحمة اللّٰه وبرکاته

د دعوت مجله یوازی زمونږ نه بلکې د ننګرهار د لیسو د ټولو زده کوونکو ډیره زیاته خوښیږی او هغه دا چه دا مجله د توحید په باب ډیر ښکلی او مفید مضامین خپروی چه د لوستونکو د عقیدوی ژوند تداوی پری کیږی، مګر بدبختانه چه مونږ ته نه رارسیږی او که کومه ګڼه تر لاسه کړو، د هغی په لوستلو زمونږ ملګری یو بل ته کافي انتظار کوی، دا څه علت دی؟ دلته په ننګرهار کی دمجلی دتوزیع پروګرام نشته که څنګه؟ امید دی چه زمونږ دغه ډول غوښتنی ته به مو فکر شي او د مجلی رالیږل به جاری کړئ.

(په احترام)

د ننګرهار ولایت د چپرهار د ولسوالی لطف اللّٰه «توحیدیار» صاحب!

سلامونو ته مو وعلیکم السلام ورحمة اللّٰه وبرکاته وایو! ددعوت مجلی د مضامینو د خوښولو مو ممنون یو.

وروره! تاسی د مجلی د نه رسیدو علت پوښتلی دی، مونږ دیو بل ورور د لیك همدغه ځواب ورکړی دی، هیله ده چه ستاسی پوښتنه به ځواب شوي وی.

والســـــلام

ددعوت مجلی د اداری له خوا

ارشاد نبوی

بسم الله الرحمن الرحيم

«مَنْ كانَتْ لَهُ ثَلاثَ بَنَات أو ثَلاثَ أخواتْ او إبنتان او أُختَان فأَحْسَنَ صُحْبَتهنّ واتَقْى اللّه فيهنّ فَلهُ الجَنّة»

ترجمه: أبو سعيد خدري وايی چه رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلی دي: د چا چه دوه يا دری لونه يا خويندی وی او ښه سلوك ورسره وكړی او ددوی حقوق د تقویٰ په رڼا كی وساتی، نو ددهٔ لپاره به جنت وی.

د إمام الجهاد شهید جمیل الرحمن رحمه الله له ارشاداتو څخه

★ د لا إله إلا الله محمد رسول الله د کلمې په ویلو سره پر موږ واجبه شوه چه زموږ پر سر هر طاغوتي قانون وي، دا باید ختم کړو او خپل ژوند او معاشره ترینه جلا کړو.

★ د هر مسلمان دا فریضه ده چه خپل ټول قوتونه د اسلامي نظام د اقامې لپاره مصرف او پکار ئې واچوي.

★ اسلامي قانون د انسانیت د ژوند هدف دی.

★ طاغوتي قانون د تش آواز په قوت له منځه نهٔ ځي، بلکه عملاً ترې وتلو او مخالفت کولو ته ضرورت دی.

★ د عامو انتخاباتو او ډیموکراسۍ لارې او طریقې د اسلام پر ضد لارې او طریقې دی.

★ څني اشخاص چه د اسلامي فکر او فهم نه محروم دي، د اسلام دښمنانا ن ئې په افغانستان کې دډیموکراسی نظام د را وستلو لپاره استعمالوی او دا کوشش کوی چه دغه طریقه په افغانستان کی هم رایجه کړی، تر څو یکی د اسلام دښمنانو ته د لاس وهنو یوه ډیره ښه زمینه هر وخت مساعده وی چه د دی خاوری مسلمانان د اسلامي نظام له فیوضو نه محروم پاتي شی او د ارامۍ او سوکالۍ ساه وانهٔ خلی.